

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
## او د هیوادوالو نظرونه

### ۱۴۰۵ لمریز کال

دویم راپور



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of the Deputy PM for Economic Affairs

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هیــوادوالــو نظــرونه

## ۱۴۰۵ لمریز کال
## دویم راپور


**ناشر:**
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**ډیزاینر:**
عطاءالرحمن سعید



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af


بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ابوعلي سینا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړیوال نندارتون..۱

د حیرتان ـ مزارشریف اوسپني پټلی د پنځمې برخې د بیاځلې فعالېدو پرانیسته وشوه ...........۹

په بلخ کې د لاجورد استوگنیز کمپلېکس د بنسټ ډبره کېښودل شوه .............................. ۱۵

د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پر ژر نهایي کېدو ټینگار .... ۲۳

د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه جوړه شوه ...........................................................۳۱

د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان منظور شو ........................................................۳۷

د جبل السراج سیمنټو دویمې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وشوه................. ۴۵

عزیزي انرژۍ شرکت د لس زره مېگاواټه برېښنا د تولید لپاره ټول تخنیکي وسایل پېرلي .......۵۳

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ نندارتون پرانیستل شو ...............................................۶۱

هرات ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دوه ورځنی سفر.................................. ۷۱

١

# محترم ملا عبدالغني برادراخوند د ابوعلي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون پرانيست



## سریزه

د درمل جوړولو صنعت د روغتیایي خدمتونو له پاره ډېر مهم دی، ځکه د باکیفیته درملو پر مټ کولای شو د انسانانو ژوند خوندي کړو او د ناروغیو مخه ونیسو. اوسمهال ددې سکټور پرمختګ اړین دی او د ساینس او ټکنالوژۍ په پرمختګ سره د درملو صنعت هم پرمختګ کړی دی. افغانستان چې له کلونو راهیسې په جګړو کې ښکیل و، د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د جګړو او نا امنیو ټغر ټول شو او اوس د هېواد په بېلا بېلو برخو کې پرمختګونو ته لار هواره شوې ده. همدا اوس په ټول هېواد کې د درملو ۱۳۴ تولیدي فابریکې فعالیت کوي، چې ۱۱۷۰ قلمه درمل تولیدوي. په دې فابریکو کې ۴۵۰ میلیون ډالر پانګونه شوې، چې د هېواد ۳۸ سلنه اړتیا پوره کوي. اوس چې په هېواد کې دننه په پراخه کچه درمل تولیدېږي، په دې برخه کې د لازیاتې پانګې د جذب په موخه نندارتونونه هم جوړېږي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۹مه نېټه د ابو علي سینا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې موخه په جوړو شویو مراسمو کې د وینا پرمهال وویل چې د افغانستان د درملو سکټور د پیاوړتیا په برخه کې لازم اقدامات شوي او اوسمهال د هېوادوالو اړتیاوې تر ډېره له کورني تولید څخه پوره کېږي. هغه زیاته کړه، د بهرنیو فشارونو او اقتصادي بندیزونو په مقابل کې تر ټولو مؤثره لار د کورني تولید پیاوړي کول او د هغه ملاتړ دی. محترم ملا صاحب وویل، په دې وروستیو کې د درملو د وارداتو کمول د دې سبب شول چې د افغانستان د درملو سکټور په کم وخت کې ډېره وده وکړي او هېوادوال د بهرنیو درملو پرځای له کورنیو درملو استفاده کوي. هغه زیاته کړه، د هېواد اړتیا ته په کتو، دغه لاسته راوړنې کفایت نه کوي، بلکې اړتیا ده چې د درملو تولیدي فابریکې لا ډېرې معیاري او د منل شوو معیارونو مطابق

خپلو توليداتو ته پراختيا ورکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د درملو سکټور د پياوړتيا په برخه کې د دغه ننداراتون جوړول مهم وبلل او د روغتيا سکټور له ټولو مسوولينو او هېوادوالو يې وغوښتل چې په خپلو کورنيو درملو باور او له هغو استفاده وکړي. محترم ملا صاحب همداراز له سوداګرو او درملو پلورونکو هم په جدي ډول وغوښتل چې درمل په لوړه بيه ونه پلوري او له احتکار څخه لاس واخلي. هغه په دې برخه کې له اړوندو امارتي ادارو او مسوولينو په کلکه وغوښتل چې د داسې کړنو جدي مخنيوی وکړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له ټولو پانګوالو وغوښتل چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. هغه داډ ورکړ چې اسلامي امارت يې ترڅنګ ولاړ دی، د پانګونې پروسو پر رالنډېدلو کار روان دی او په تدريجي ډول به اليکترونيکي سيستم رامنځته شي.

محترم ملا صاحب همدارنګه وويل چې اسلامي امارت يوازې پر داخلي اقتصاد تمرکز نه کوي، بلکې د سيمه‌ييز او نړيوال اقتصادي اتصال په برخه کې هم له هېوادونو سره پياوړې اړيکې غواړي او په خبره يې، اوسمهال د سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره اقتصادي تعاملات زيات شوي. د ابو علي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال ننداراتون کې د درملو لسګونو توليدي فابريکو خپل توليدات نندارې ته وړاندې کړي وو.

## د ابوعلي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال ننداراتون د پرانيستې موخه:

د درملو صنعت وده او په دې برخه کې د پانګونې جذب.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (د ابوعلي سینا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړیوال ننداړتون پرانیستې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۳۵۸ مثبت نظرونه، ۱۹ منفي نظرونه او ۲ سالم وړاندیزونه دي، چې له مخې یې ۹۴٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړاندیزونه دي.



## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مونږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. د درملو په کیفیت باید ډېر کار وشي، اکثر داخلي تولید شوي درمل بې کیفیته ثابت شوي دي.

۲. داخلي درمل ډېر ګران دي. د دې تر څنګ یوه بله ستونزه دا هم ده چې ډاکټران باید مسلکي شي. باید مونږ په هره ناروغۍ کې پوه ډاکټران ولرو. تر څنګ یې باید لازم طبي سامان الات هم ولرو. ترڅو خپل ناروغان په خپل هېواد کې تداوي کړو.

۳. محترم ملا برادر صاحب تاسو چې د درملو برخو کې څومره ژمنې کړې دي، هغه دې عملي کړې دي او یا په عملي ډول کار وربانديې روان دی. په خپل هېواد کې د ناروغانو د درملنې په برخه کې هم خدمت وکړه.

۴. کاش چې تاسو د درملو تولیدي فابریکو ته وړې قرضې ورکړئ.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✓ **لومړی:** په ټولنیزو رسنیو کې اکثریت هېوادوالو دغه خبر مثبت ارزولی دی. د دوی په وینا، د دوا کیفیت ته باید ډېره پاملرنه وشي. د هېوادوالو دا نظر پر ځای دی، په درملو پورې د انسان روغتیا تړلې ده، که چیرې په معیار برابره نه وي، نو د انسانانو ژوند له خطر سره مخ کوي. همدې اهمیت ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت د درملو جوړولو صنعت ته پوره پاملرنه کړې ده. اوسمهال چې په هېواد کې کوم درمل تولیدېږي، د اړوندو ارګانونو له لورې یې وخت پر وخت څارنه کېږي او معیار

او کيفيت ته يې توجه کيږي.  نو له دې پلوه دې هېوادوال انديښنه څکه نه کوي چې اسلامي امارت دې برخو ته ډېر متوجه دی. دويم دا چې له کوم وخت راهيسې له پاکستان سره لارې ترل شوې دي، په کور دننه د درملو په برخه کې زياتره اړتيا له کورنيو درملو څخه پوره کيږي. همدا د افغانستان توليد شوي درمل دي چې ډاکټران يې ناروغانو ته توصيه کوي، که يې کيفيت ټيټ وای، نو بيا ډاکټرانو د هېواد درمل نه تجويزول.

- **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ويلي چې د داخلي درملو بيې لوړې دي. دغه راز دوی د مسلکي ډاکټرانو او طبي وسايلو شتون هم اړين بللی دی، ترڅو ناروغان په خپل هېواد کې تداوي او نورو هېوادونو ته د درملنې په موخه ولاړ نه شي.  زموږ هېواد کې د درملو صنعت نوی د پرمختګ پړاو ته ننوتلی دی. د درملو جوړولو په برخه کې زياتره خام مواد له بهر څخه راځي. همدا لامل دی چې درمل يو څه ګران پريوځي. خو سره له دې هم د اسلامي امارت مسوولين تل پر دې ټينګار کوي او له درمل توليدونکو غواړي چې د درملو بيې دې ټيټې ساتي څو هېوادوال وکولای شي، په اسانی سره درمل ترلاسه کړي. دا چې موږ پر دې وتوانيږو چې په کور دننه د ټولو ناروغانو درملنه وکړو او بهر ته څوک ولاړ نه شي، په دې برخه کې هم کار روان دی. د هېواد په بېلا بېلو ولايتونو کې روغتونونه جوړيږي او د پوهنتون په کچه د طب په برخه کې مسلکي کادرونه روزل کيږي. خو دا دواړه برخې وخت ته اړتيا لري. د وخت په تېرېدو سره به موږ هم د درملو په برخه کې تر ډېره پر ځان بسيا شو او هم به په ټولو برخو کې متخصص او بااستعداده ډاکټران ولرو. هغه مهال به بيا زموږ هېوادوال دې ته اړ نه وي چې د درملنې له پاره له هېواد څخه بهر ولاړ شي.
- **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د درملو توليدي فابريکو ته د کوچنيو پورونو د ورکړې غوښتنه کړې ده.  اسلامي امارت د کوچنيو پورونو د ورکړې لپاره کړنلاره جوړه کړې ده. د هغې کړنلارې له مخې ټولو هغو هېوادوالو ته چې غواړي

پورونه ترلاسه کړي او پر مټ يې وکولای شي خپل کاروبارونه وغوړوي، کولای شي له شرعي اصولو سره سم د قرضې په شکل پيسې ترلاسه کړي. په همدې وروستيو کې د «اپکس امانت» په نوم د وړو مالي تمويلونو موسسې، د افغانستان بانک او د صنعت او سوداګرۍ وزارت د جوازونو له ترلاسه کولو وروسته، د اسلامي مالي خدمتونو او پورونو د وړاندې کولو په برخه کې په رسمي ډول خپل فعاليت پيل کړ. د يادې موسسې رييس ويلي، موخه يې دا ده چې افغان کورنيو، متشبثينو او کسبګرو ته د لاسرسي وړ او له شريعت سره سم مالي خدمتونه وړاندې کړي. اسلامي امارت په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي او هڅه يې داده چې نه يوازې د درملو صنعت په برخه کې بلکې په ټولو سترو او کوچنيو کارونو کې د خلکو لاسنيوی وکړي او په هره برخه کې پانګه جذب او د هېواد په کچه کاروبارونه لا وغوړوي. نو د درملو توليدي فابريکو له پاره هم دا اسانتياوې شته دي.

## پايله

د ابو علي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون پرانيستل به ددې لامل شي چې په کور دننه د درملو توليد زيات او په دې برخه کې پانګه راجذب شي. د درملو جوړولو سکټور په پياوړتيا سره به له يوه لوري هېوادوالو ته د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې اسانتياوې رامنځته شي، له بل لوري به د درملو په برخه کې پرځان بسيا کېدو سره ډېرې هغه پيسې په کور دننه پاتې او په حرکت راشي چې اوسمهال درمل پرې وارديږي چې دا خپله د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځي.

په ټوله کې د هېوادوالو نظرونه ښيي چې د درملو د کيفيت، مناسبې بيې، د روغتيايي خدمتونو د پراختيا او د کورنيو توليدوونکو د ملاتړ موضوعات د خلکو مهمې غوښتنې دي. د افغانستان اسلامي امارت د درملو صنعت د ودې، د کيفيت څارنې، د روغتيايي زېربناوو د پراختيا او د اسلامي مالي خدمتونو له لارې د کورنيو توليدي فابريکو د ملاتړ

لپاره عملي ګامونه پورته کړي دي. که څه هم د درملو صنعت لا هم د پرمختګ په پړاو کې دی او ځینې ننګونې شته، خو د روانو هڅو دوام کولای شي افغانستان په تدریج سره د درملو په تولید او روغتیایي خدمتونو کې د ځان بسیاینې پر لور رهبري کړي او د هېوادوالو اړتیاوې په غوره ډول پوره کړي.

## ۲

# د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ د پنځمې برخې د بیاځلې فعالېدو پرانیسته وشوه



د سوداګرۍ او ترانزیټ له پاره د لویو لارو، سړکونو، د رېل پټلیو غځولو، هوایي کرښو او معیاري هوايي ډګرونو جوړول اړین دي، ځکه ددې ترانزیټي او مواصلاتي زېربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښیرازي او پرمختیا امکان نه لري. د افغانستان اسلامي امارت پورتنیو ټکو ته په پاملرنې سره غوارې د نورو زېربناوو ترڅنګ له رغول شویو رېل پټلیو ګټه پورته کړي او نوې هغه جوړې کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غوايي میاشتې په ۳۱مه نېټه په بلخ ولایت کې د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ د پنځمې برخې د بیاځلې فعالېدو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په هېواد کې د اوسپنې پټلۍ شبکو د پراختیا په برخه کې د ټولګټو وزارت هڅې وستایلې او همدارز یې د ازبیکستان هېواد له همکاریو هم مننه وکړه. هغه زیاته کړه، د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې د پخوا په پرتله پیاوړې شوې او د پراختیا لپاره یې د بلخ د محترم والي صاحب الحاج محمد یوسف وفا په مشرۍ له اړوندو ادارو څخه ګډه کمېټه ټاکل شوې ده.

د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ پنځمه برخه ۷۰ کیلومتره اوږدوالی، ۳۰ کیلومتره فرعي کرښې، پنځه سټېشنونه او همدارنګه د ۵۰ واګونونو د تخلیې ظرفیت لري. د دې برخې په فعالېدو سره به د سوداګریزو توکو د حجم په زیاتوالي او انتقال کې د پام وړ سهولتونه رامنځته شي.

## د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ د پنځمې برخې د بیاځلې فعالېدو موخه:

د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا او د سوداګرۍ وده

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلۍ د

پنځمې برخې د بیاځلي فعالېدو) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۶۰۳ مثبت نظرونه، ۳۶ منفي نظرونه او ۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۴٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. په نړۍ کې چې څومره شتمن افغانان دي پکار ده چې دا ټول شتمن په افغانستان کې پانګونه وکړي، هم به افغانستان اباد شي او هم به د بې کارۍ کچه ټیټه شي او خلکو ته به کار پیدا شي.

۲. مزارشریف دافغانستان داقتصاد مرکز دی، خو چې فابریکې جوړې شوې وای بهتره به وه.

۳. مهمه خبره داده چې د ویزو پالیسی باندې له ګاونډیو او نورو هېوادونو سره جدي بحث وشي او حل لارورته پیداشي، که د تجارانو ویزې وي اوکه دمریضانو یا سیاحتي وي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- ✓ **لومړی:** په ټولنیزو رسنیو کې هېوادوالو په خپلو تبصرو کې له شتمنو افغانانو غوښتي چې په افغانستان کې دې پانګونه وکړي، څو هېواد اباد او خلکو ته د کار روزګار زمینه برابره شي. په بېلا بېلو سکټورونو کې پانګونه کولای شي، د پرمختګ او اقتصادي ودې له پاره زمینه برابره کړي. د افغانستان اسلامي امارت د پانګونې ارزښت او اهمیت ته په کتو هڅه کړې ده چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړي. په هېواد کې سرتاسري امنیت، له طبیعي زېرمو غني هېواد، د پانګونې ملاتړی حکومت، ارزانه کاري ځواک، د سوداګرۍ او کاروبار کم لګښتونه، د سیمه ییز اتصال له لارې نړیوالو بازارونو ته اسانه لاسرسی، سوداګریز تړونونه، د سوداګرۍ له پاره پراخ چاپیریال، د کمو سیالانو په شتون کې ناکارول شوی بازار، د پانګوالو له پاره د اسانتیاوو په موخه د واحد مرکز رامنځته کول، د پانګونې اسان قوانین او په زره پورې مالیاتي کڅوړې هغه څه دي چې تر دې مهاله لسګونو بهرنیو سترو کمپنیو لیوالتیا ښودلې ده چې د کانونو، کرنې، برېښنا او انرژۍ، ترانسپورټ، کوچنیو او منځنیو تشبثاتو، ګمرکاتو، هوایي ډګرونو کې د خدمتونو وړاندې کولو، ترانزیټ، صنعتي پارکونو، ریل پټلۍ... او داسې نورو برخو کې پانګونه وکړي. نو له دې جوته شوه چې اسلامي امارت د پانګې د جذب په برخه کې نه یوازې هڅې کړې دي، بلکې تر ډېره بریده په دې برخه کې بریالی شوی هم دی او په بېلا بېلو سکټورونو کې یې میلیونونه افغانی پانګه جذب کړې ده.

نور هغه شتمن افغانان چې غواړي په افغانستان کې پانګونه وکړي، کولای شي له دې فرصت څخه استفاده وکړي. اسلامي امارت ورته ښه راغلاست وايي او ملاتړ يې کوي.

- ✓ **دويم:** يو شمير هېوادوالو بيا په خپلو نظرونو کې د اوسپنې پټلی ترځنګ په هېواد کې د صنعتي فابريکو جوړېدو موضوع ته اشاره کړې ده او ويلي يې دي چې په هېواد کې دې صنعتي فابريکې جوړې شي. د دوی نظر پر ځای دی، هر هېواد چې د ترقی او پرمختګ لوړو پوړيو ته رسيدلی دی، د نورو برخو ترځنګ يې صنعت ډېر پرمختللی دی. مانا دا چې که د يوه هېواد صنعت وده وکړي، نو هغه هېواد په اقتصادي لحاظ د پرمختګ په لار روانېدای شي. اسلامي امارت د صنعت اهميت ته په کتو په دې برخه کې خپلې هلې ځلې پيل کړې دي. تر دې مهاله د هېواد په کچه لسګونه صنعتي فابريکې فعالې شوې دي. د اوسپنې ويلې کولو له فابريکو نيولې بيا د درملو او نورو صنعتي توليداتو پورې لسګونه فابريکې فعالې دي او توليدات لري. همدا اوس افغانستان د اوسپنې، خوراکي توکو او ځينو نورو برخو کې ځان بسياينې ته نږدې شوی دی. د اسلامي امارت هڅه داده چې د صنعت په برخه کې لا پرمختګ وکړي او غواړي په دې برخه کې د کورنی پانګې ترځنګ بهرنی پانګه هم جذب کړي. د پانګې په جذب سره به وکولای شو، د صنعت برخه نوره هم پراخه کړو او افغانستان په بېلا بېلو برخو کې پر ځان بسيا او د نورو له احتياجه يې خلاص کړو. د صنعت په ودې سره به اقتصادي وده ګړندی او هېواد به د پرمختګ په لور روان شي.
- ✓ **دريیم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو وړانديزونو کې له ګاونډيو هېوادونو سره د سوداګريزو، روغتيايي او يا سياحتي ويزو په برخه کې د اسانتياوو راوستلو ته اشاره کړې ده. دوی ويلي چې په دې اړه دې له يادو هېوادونو سره خبرې وشي او په دې برخه کې دې اسانتياوې رامنځته شي. د هېوادونو ترمنځ د تګ راتګ له پاره.

هغه که سوداګریزې ویزې دي او یا هم د ناروغانو او سیاحت له پاره ویزې دي. ځکه ویزه یوازې د سفر اجازه نه ده، بلکې د هېوادونو د امنیت، اقتصاد، قانوني نظم او نړیوالو اړیکو د پیاوړتیا لپاره یوه مهمه وسیله هم ده. اسلامي امارت له بهر څخه افغانستان ته د راتلونکو سوداګرو او نورو کسانو له پاره د ویزو په ورکړه کې اسانتیاوې راوستې دي. دغه راز ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره هم په دې اړه خبرې شوې دي چې افغانانو ته د ویزو په ورکړه کې اسانتیاوې رامنځته کړي. په دې برخه کې اوسمهال ډېرې اسانتیاوې راغلي دي او افغان سوداګر کولای شي له کومې ستونزې پرته د بېلا بېلو هېوادونو څخه تجارتي ویزې ترلاسه کړي او خپله سوداګري وکړي. اوس که څه هم ناروغانو او سیاحانو ته د ځینو هېوادونو ویزو کې ستونزې شته، خو اسلامي امارت په در برخه کې هم هڅې پیل کړې دي او دا ستونزه به حل شي.

## پایله

په بلخ ولایت کې د حیرتان ـ مزارشریف اوسپنې پټلی د پنځمې برخې د بیاځلي فعالېدو له لارې به د افغانستان سوداګرۍ لا پراخه او اقتصادي فعالیتونه به ورسره وغوړېږي. هېوادوالو ددې اوسپنې پټلی د پنځمې برخې په بیاځلي فعالیدو خوښي ښودلې، خو ترڅنګ یې دا هم ویلي چې که په هېواد کې دننه صنعتي فابریکې جوړې شي او بهر میشت افغانان په بېلا بېلو سکتورونو کې پانګونه وکړي، نو هم به مو هېواد اباد شي او هم به خلکو ته د کار روزګار زمینه برابره شي. اسلامي امارت نه یوازې یوې برخې ته پاملرنه کړې ده، بلکې په هره برخه کې هڅه کوي چې پرمختګونه رامنځته او د هېواد اقتصاد پیاوړی او خلک د هوسا او ارام ژوند څښتنان شي. د اوس په څیرکه په هېواد کې اقتصادي او د بیارغونې کارونه همداسې روان وي، په راتلونکي کې به د یوه پرمختللي او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان شاهدان واوسو.

٣

# په بلخ کې د لاجورد استوګنیز کمپلېکس د بنسټ ډبره کېښودل شوه



استوګنيز کمپلېکسونه ددې ترڅنګ چې خلکو ته سرپناه برابروي، د کارموندنې، پانګونې، حکومتي عوايدو، ښاري پراختيا او اقتصادي ودې په برخه کې هم مهم رول لري. دغه راز دداسې کمپلېکسونو جوړولو پرمهال د يادو ګټو ترڅنګ د سيمنټو، فولادو، خښتو، رنګونو، لرګيو، فرنيچر او ساختماني تجهيزاتو په څير صنعتونه هم وده کوي. همدې ټکو ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت د استوګنيزو کمپلېکسونو جوړولو په برخه کې پانګه راجذب کړې او په ځينو ولايتونو کې دغه ډول کمپليکسونه د جوړېدو په حال کې دي. په همدې موخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۹مه نېټه په بلخ ولايت کې د لاجورد استوګنيز کمپلېکس د بنسټ ډبره کېښوده. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي خپلواکۍ، د کورنۍ او بهرنۍ پانګې د جذب او زېربنايي پروژو تطبيق ته ځانګړې پاملرنه کړې، چې لاجورد کمپلېکس يې ښه بېلګه ده. محترم ملا صاحب زياته کړه، لکه څنګه چې په هېواد کې د قوش‌تېپې، صنعتي فابريکو، د لويو لارو، د برېښنا توليد او نورو سکټورونو کې د پروژو عملي چارې روانې دي، ترڅنګ يې د ښاري پراختيا په برخه کې هم د ماسټرپلانونو په نهايي کېدو او تطبيق عملي کارروان دی. هغه وويل، اسلامي امارت ځان مکلف ګڼي چې د ودانيزو پروژو په برخه کې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې زمينه او اسانتياوې برابرې کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد په اقتصادي ثبات او بيارغونه کې د دولت ترڅنګ د خصوصي سکټور ګډ کار مهم وباله او ډاډ يې ورکړ، چې اسلامي امارت يې پوره ملاتړ کوي. هغه پر ټولو پانګوالو غږ وکړ، چې د نورو برخو ترڅنګ په ساختماني سکټور کې هم پانګونه وکړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال همدارنګه وويل، بلخ ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې به له سوداګريزو بندرونو څخه هم ليدنه وکړي، څو يې خدمات ۲۴ ساعته شي او ټولې اداري له ځنډ پرته صادراتي او وارداتي خدمات وړاندې کړي.

د لاجورد استوګنيز کمپلېکس کې د خصوصي سکتور له لوري ۱۵۰ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې شاوخوا ۱۴۴۸ اپارتمانونه به پکې په عصري او معیاري بڼه جوړ او شاوخوا ۷۰۰۰ هېوادوالو ته به د کار زمينه برابره شي. دغه کمپلېکس پر شاوخوا ۲۱ جريبه ځمکه جوړېږي، چې د سوداګريزو او روغتيا برخو تر څنګ به ښوونځي، شنې ساحې، مسجد، د تفريح او ورزش ځايونو په ګډون ټولې اړينې اسانتياوې ولري.

## په بلخ کې د لاجورد استوګنيز کمپليکس د بنسټ ډبرې کېښودلو موخه:

موخه يې ښاري پراختيا، هېوادوالو ته د سرپناه او د کاري زمينې برابرول دي.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (په بلخ کې د لاجورد استوګنيز کمپلېکس د بنسټ ډبرې کېښودلو) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۴۳۷ مثبت نظرونه، ۱۶ منفي نظرونه او ۶ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۵٪ مثبت نظرونه، ۳٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړانديزونه دي.



## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. محترم ملا صيب په رښتيا د هېواد د اقتصادي پراختيا، پانګونې جذب او د زيربنايي پروژو د پياوړتيا لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کړې دي. د داسې پروژو پلي کېدل د افغانستان د اقتصادي خپلواکۍ، ښاري پرمختګ او د خلکو د هوساينې لپاره يو مهم او مثبت ګام دی. الله دې نور هم توفيق ورکړي.

۲. د هېواد پرمختک او بنسټيزې پروژې کولی شي چې د ټول هېواد اقتصاد په پښو ودروي او ځوانانو ته دکار زمينه برابر کړي.

۳. مهرباني وکړئ د پانګونې په برخه کې له تجارانو سره هر اړخيزه مرسته وکړئ، تر څو په خپل هېواد کې پانګونه وکړي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✓ **لومړی:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د اقتصادي پراختيا، پانګې د جذب او د زيربنايي پروژو پلیتابه په برخو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال هلې ځلې ستايلې او د لاجورد استوګنيز کمپلېسک پروژې پيل يې د هېواد د اقتصادي خپلواکۍ، ښاري پراختيا او د هېوادوالو د هوساينې له پاره يو مهم او مثبت ګام بللی دی. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په توګه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد په بېلا بېلو برخو کې سترې اقتصادي پروژې پرانيستې دي چې ځينې يې بشپړې شوې او پر ځينو يې په چټکۍ سره کار روان دی. په دې پروژو کې د لويو لارو

په ګډون، د اوبو بندونو جوړول، د اوسپنې پټلی شبکې، برېښنا او دې ته ورته نورې پروژې شاملې دي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دا د ځان له پاره ستړیا نه، بلکې خپل مسوولیت بولي او تل یې هڅه داده چې افغانستان په هره برخه، په ځانګړې ډول اقتصادي برخه کې پر خپلو پښو ودروي. افغانستان چې له کلونو راهیسې د ښاري پراختیا په برخه کې له ستونزو سره مخ دی او ډېری ښارونه یې په پخوانی بڼه پاتې دي، د نفوسو زیاتوالي ته په کتو ددې اړتیا شته چې اوس یې ستونزې هوارې او ښارونه پراختیا ومومي. د افغانستان اسلامي امارت په همدې موخه د ښارونو د پراختیا او نظم په موخه ماسټر پلانونه پلي کوي. د ماسټر پلانونو په پلي کېدو او د ښارونو په پراختیا سره به ښاري نظم رامنځته او د ټولنیزو چارو ترڅنګ به اقتصادي چارې وغوړیږي.

- **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د یاد خبر په اړه خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې بنسټیزې پروژې کولی شي د هېواد اقتصاد په پښو ودروي. په رښتیا هم د سترو پروژو عملي کېدل د هېواد د پرمختګ کیلي ده. دغه پروژې که د ترانسپورټ او ترانزیټ وي یا هم د اوبو مدیریت، صنعت، کرنې، روغتیا، ښاري پراختیا او داسې نورو برخو کې وي، کولی شي، د هېواد زیربناوې ورغوي او اقتصادي وده چټکه کړي. د اسلامي امارت په راتګ سره تقریباً په ټولو سکټورونو کې اساسي او بنسټیزې پروژې پیل شوې دي. لویې لارې رغول شوې، د اوبو بندونه جوړ او پر ځینو یې کار روان دی، د برېښنا په برخه کې پروژې عملي شوې، د صنعت، کرنې، روغتیا او یو شمیر نورو سکټورونو په برخه کې تر ډېره بریده پرمختګ شوی، د اوبو د سترو کانالونو چارې روانې دي، د پانګې د جلب او جذب په برخه کې کار شوی دی. د اوسپنې پټلی شبکې پراختیا موندلې او په دې برخه کې لا هم کار روان دی. د تاپي په څیر مهمه پروژه پیل او چارې یې چټکې روانې دي. ځینې نورې پروژې هم په پلان کې دي چې په راتلونکې کې به یې عملي چارې پیل شي. اسلامي امارت د بنسټیزو پروژو عملي کېدو ته ژمن

دی او هڅه يې داده چې ددې پروژو پر بنسټ خپلې زيربناوې ورغوي او اقتصادي او ټولنيز پرمختګ ته لار هواره کړي.

- **درېيم:** يو شمېر د نظر خاوندانو بيا له اسلامي امارت څخه غوښتي چې سوداګرو او پانګوالو ته دې د پانګونې په برخه کې اسانتياوې رامنځته کړي. په رښتيا هم د يوې ټولنې او يا هم يو هېواد اقتصاد په پانګونې ولاړ وي، ځکه د همدغه پانګونې په برکت توليد رامنځته کيږي او توليد بيا هغه څه دی چې د اقتصادي تحرک په موخه د وګړو هلې ځلې او فعاليتونه سره را يو ځای کوي. ځوک مستقيماً د توليد په پروسه کې دخيل وي، ځوک ورته خام مواد برابروي، د چا دنده بازار موندنه وي او يو شمير يې په نورو برخو کې په کار بوخت وي. دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچينه اخلي، ځکه خو بايد د اقتصادي نظام د تحرک په موخه پانګونه تشويق، حمايه او وهڅول شي. اسلامي امارت د پانګونې ارزښت او اهميت ته په کتو د پانګوالو له پاره اسانتياوې رامنځته کړې دي. د اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې د اقتصادي کمېسيون له پرېکړې سره سم د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټه فعاليت کوي. د بين‌الوزارتي کمېټې د رامنځته کېدو موخه د کورنۍ او بهرنۍ پانګې د جلب او جذب د بهير چټکتيا، د پانګونې د طرحو په طی‌مراحلو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنځ همغږي، د پانګونې لپاره د مناسب چاپېريال او د چارو د ښه مديريت زمينې برابرول او په افغانستان کې د پانګونې پروژو په اړه پانګوالو ته د لازمو معلوماتو چمتو کول دي. دغه راز د پانګونې په برخه کې د شته اسانتياوو او موجودو فرصتونو په خاطر يې د پانګونې لارښود چمتو کړی دی. دا ټول په دې خاطر دي چې پانګوالو ته اسانتياوې برابرې او هغوی وهڅول شي، څو په افغانستان کې پانګونه وکړي. تر دې مهاله په ميلياردونو افغانۍ پانګه جذب شوې چې پر مټ يې ځينې پروژې پيل شوې هم دي. د لاجورد استوګنيز کمپلکس جوړول ددې ادعا ښه ثبوت دی.

## پایله

د لاجورد استوګنیز کمپلېکس په جوړېدو سره به خلکو ته سرپناه برابره، کاري فرصتونه رامنځته، پانګه به جذب، حکومتي عوایدو کې به زیاتوالی راشي، ښاري پراختیا ته به لار هواره  او اقتصادي وده به چټکه شي. اسلامي امارت د ښارونو د پراختیا په برخه کې ګامونه پورته کړي دي او ښاري ماسټر پلانونه تر کار لاندې دي. د ښاري ماسټر پلانونو په عملي کېدو سره به نه یوازې ښاري پراختیا او په ښارونو کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي، بلکې ترڅنګ به یې اقتصادي چارې هم ګړندۍ شي. د لاجورد استوګنیز کمپلېکس د خبر په اړه هېوادوالو خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې د داسې پروژو په عملي کېدو سره به هېواد اقتصادي خپلواکۍ، ښاري پراختیا او خلک له ګڼو اسانتیاوو برخمن شي. ددغه ستر کمپلېکس په جوړېدو به ډېر شمیر هېوادوالو ته دایمي کار پیدا شي. د زېربناوو په رغیدو سره به له یوه لوري مونږ د اقتصادي پرمختګ شاهدان واوسو او له بل لوري به مو ښارونه په معیار برابر او خلکو ته به د سرپناه ترڅنګ د کاروبار زمینه برابره شي.

۴

# د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پرژر نهایي کېدو ټینګار



په افغانستان کې واک ته د افغانستان اسلامي امارت له رسېدو وروسته له قزاقستان سره اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي. که څه هم دواړه هېوادونه ګډه پوله نه لري، خو د سوداګرۍ، ترانزیټ، کرنې، انرژۍ، لوژستیک او دې ته ورته نورو برخو کې یې اړیکې ورځ تر بلې پیاوړې شوې دي. قزاقستان د منځنۍ آسیا تر ټولو لوی اقتصاد لري، په داسې حال کې چې افغانستان بیا د جنوبي او منځنۍ آسیا ترمنځ د وصل مهمه جغرافیایي نقطه ګڼل کېږي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې له دې فرصت څخه اعظمي ګټه پورته کړي او د قزاقستان په ګډون د منځنۍ اسیا د نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو د ټینګښت له لارې خپل اقتصاد پیاوړی او پر خپلو پښو ودروي. په دې وروستیو کې د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ له راغلي پلاوي سره د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۳۰مه نېټه د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال افغانستان او قزاقستان مهم سوداګریز شریکان وبلل او هیله یې څرګنده کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو لار نقشې په تطبیق سره به د سوداګرۍ حجم درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د کرنې، کانونو استخراج، ترانسپورټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت برخو کې ګډ کار کول، د کرنیزو محصولاتو د صادراتو زیاتوالی، د بانکي اړیکو پیاوړتیا، د کرنې او مالدارۍ اړوند موافقتنامې، د مالي بازارونو په برخه کې تخنیکي همکاري، د داخلي اسعارو کارول، د ترانسپورټي او لوژستیکي همکاریو پراختیا، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان د ګډ مرکز جوړولو وړاندیز او په خارګوس بندر کې د افغانستان اړوند د وارداتي توکو لپاره د لوژستیکي مرکز جوړولو غوښتنه د دې لار نقشې مهمې برخې دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، افغانستان د یادې لار نقشې مسوده له خپل لوري نهایي کړې او له قزاقستاني لوري هم غوښتنه کوي، چې د دوی اړوند برخې نهایي او تطبیق ته یې زمینه برابره کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقتصادي همکاريو د پراختيا لپاره د خصوصي سکټور رول مهم وباله او ويې ويل، د سوداګريزو نندارتونونو، ګډو اقتصادي فورمونو، د سوداګرۍ خونو ترمنځ د همکاريو او د سوداګرو د متقابلو سفرونو دېروالی کولای شي نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او د پانګونې کچه لوړه کړي.

ورپسې د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال ښاغلي سريک ژومانګارين خبرې وکړې او ويې وويل، د قزاقستان ولسمشر له افغانستان سره د اړيکو پراختيا او اقتصادي همکاريو زياتوالي ته ځانګړې توجه لري او دا سفر هم د هغه په هدايت شوی. ښاغلي ژومانګارين زياته کړه، چې هېواد يې له افغانستان سره د زره ناروغيو د تشخيص، امنيتي سکټور د پياوړتيا او همدارز د اوبو مديريت په برخه کې همکاريو ته چمتو دی. نوموړي وويل، دوی به په کابل پوهنتون کې د اوبو مديريت لپاره يو علمي مرکز پرانيزي چې افغان متخصصينو ته به روزنه ورکوي.

په دې غونډه کې همدارز د ترانسپورټ، صادراتو او وارداتو د زياتوالي، بانکي اسانتياوو رامنځته کولو، د اقتصادي همکاريو د لار نقشې د ژر نهايي کېدو او يوشمېر نورو موضوعاتو په اړه هم بحث وشو او تينګار وشو، چې په دې اړه به تخنيکي کمېټې خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

## د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاريو د لار نقشې پر ژر نهايي کېدو ټينګار موخه:

موخه يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې لوړوالی او په بېلا بېلو سکټورونو کې پرمختګونه دي.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هیوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پر ژر نهایي کېدو ټینګار ) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۵۴ مثبت نظرونه، ۱۵ منفي نظرونه او ۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۳٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. د تاریخ په اوږدو کې داسې د امن فضا او د یوه بهرني مشر داسې ازاد ګرځېدل د یوې لویې سیاسي او امنیتي فضا د شتون تصدیق دی. هیله ده چې امنیتي ځواکونه او استخبارات د دې الهي نعمت په ساتنه کې ډېر فعال واوسي.

۲. قزاقستان له افغانستان سره دوستانه اړيکې لري، موږ هلته الماتي کې ماسټري برنامه بشپړه کړې، هغه علمي او اقتصادي منابع چې دوی يې لري که له افغانستان سره يې شريکې کړي، ډېر ستر کار او د افغانستان لپاره به يو ښه زيری وي.

۳. کابل ته د اوبو انتقال پروژه بايد شروع شي. د اوبو قحطي راروانه ده مخکې له مخکې بايد کار پرې شروع شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- ✓ **لومړی:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې په هېواد کې شته امنيت بې سارى بللى او ويلي يې دي چې دتاريخ په اوږدو کې داسې د امن فضا او د يوه بهرني مشر يانې د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال داسې ازاد ګرځېدل د امنيتي فضا د شتون تصديق دی. دوی له امنيتي ځواکونو غوښتي چې د امن په ساتنه کې دې فعال واوسي. په افغانستان کې له شاوخوا څلورو لسيزو وروسته په هېواد کې په بې سارې ډول امنيت راغلی دی. اوسمهال په ټول هېواد کې يو واحد نظام دی او د تير په څير ملک الطوايفي نشته. افغانان د يوه واحد نظام تر چتر لاندې سره راټول دي او په هېواد کې بشپړ امنيت ټينګ شوی دی. ددې ډول امنيت ټينګښت د اسلامي امارت د مشرتابه د غوره شويو سياستونو او په پام کې نيول شويو پلانونو برکت دی. دا مهال په افغانستان کې د همدې امنيت پر مټ په ډېر کم وخت سترې اقتصادي پروژې پيل شوې دي. د زيربناوو د رغولو او جوړولو کارونه روان دي. سوداګرۍ پراختيا موندلې او کرنه چې د هېواد ډېرى خلک پرې بوخت دي، ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې ده. دا او دې ته ورته نور سکټورونه هم د پرمختګ په حال کې دي. دا ټول پرمختګونه په هېواد کې د رامنځته شوي امنيت په برکت ترسره شوي دي او لا هم جريان لري. نو د امنيت ساتلو او ټينګښت يوازينۍ لامل د

مشرتابه لارښوونې او د امنیتي ځواکونو نه ستړې کېدونکې هلې ځلې دي. امنیتي ځواکونه شپه او ورځ په همدې هڅه کې دي چې د هېواد امنیت ټینګ او هېوادوالو ته له امن او خوښیو ډکه فضا رامنځته کړي.

- **دویم:** ځینو هېوادوالو بیا په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې قزاقستان علمي او اقتصادي منابع لري که په دې برخه کې خپلې تجربې له افغانستان سره شریکې کړي، افغانستان به ډېر څه ترلاسه کړي. اسلامي امارت نه یوازې قزاقستان بلکې د ګاونډیو هېوادونو په ګډون د منځنۍ اسیا له نورو هېوادونو څخه هم په ځلونو غوښتي چې د لوړو زده کړو په برخه کې له افغانستان سره خپلې مرستې جاري وساتي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره په لیدنه کې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال دا خبره وکړه چې هېواد یې له افغانستان سره د زړه ناروغیو د تشخیص، امنیتي سکټور د پیاوړتیا او همداراز د اوبو مدیریت په برخه کې همکاریو ته چمتو دی. نوموړي وویل، دوی به په کابل پوهنتون کې د اوبو مدیریت لپاره یو علمي مرکز پرانیزي چې افغان متخصصینو ته به روزنه ورکوي.دا هغه څه دي چې اسلامي امارت یې په لټه کې دی، د اسلامي امارت مسوولین هڅه کوي چې له دوستو هېوادونو څخه د خپلو علمي زېربناوو د رغونې په برخه کې همکاري ترلاسه کړي.

- **درېیم:** یو شمیر د نظر خاوندانو بیا له اسلامي امارت څخه غوښتي چې کابل ښاریانو ته د څښاک اوبه برابرې کړي. د څو پر له پسې کلونو وچکالی، د خلکو له خوا د زیاتو اوبو مصرفولو او له ژورو څاګانو څخه د لمریزې بریښنا په مرسته د پرېمانه اوبو را ایستل او په نړیواله کچه د تودوخې زیاتېدل ټول هغه لاملونه دي، چې وچکالي یې د ناورین کچې ته رسولې ده او د ځمکې د سراوبو ترڅنګ یې ترځمکې لاندې اوبو هم ناوړه اغېزه کړې ده. له دې اغېزو څخه افغانستان په ځانګړې ډول کابل ښار هم بې برخې نه دی پاتې شوی. دا ستونزه اوس نه، بلکې له ډېر پخوا راهیسې راروانه ده او ورځ تر بلې په دې

ښار کې د اوبو کچه مخ په ټيټېدو ده. په تيرو حکومتونو کې نه خو د ښار ماسټر پلان عملي کېدو ته ځانګړې پاملرنه وشوه او نه يې هم د کاناليزاسيون غم وخوړل شو. ددې ترڅنګ په ښار کې ترځمکې لاندې اوبو د کچې لوړولو له پاره کوم داسې پلان نه و چې له مخې يې وکولای شي، اوبه زياتې او تغذيه کړي. که چيرې هغه مهال دې ټکو ته پاملرنه شوې وای اوس به د کابل ښار اوسېدونکي له دومره زياتو ستونزو سره مخ نه وو. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دې برخې ته پاملرنه شوې ده. د کابل ښار د اوبو د ستونزې په بشپړ ډول له منځه وړلو له پاره د پنجشير سيند څخه د اوبو د انتقال پروژه طرح شوې او ځينې ابتدايي کارونه يې هم ترسره شوي دي. په ۲۰۲۵ کال کې په کابل کې د ۱۶۹ ميليونه افغانيو په لګښت د څښاک اوبو يوه شبکه بشپړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه، چې شاوخوا ۶۲۰۰ کورنيو ته پاکې اوبه رسوي. په دې پروژه کې د قرغې په سيمه کې د څاګانو کيندل، د اوبو زېرمتون ته د پايپ لاين غځول او اړوند تاسيسات شامل وو.  دغه راز له شاه او عروس بند څخه کابل ښار ته د اوبو راوستلو طرحه هم تر کار لاندې ده. په لنډ ډول ويلای شو چې اسلامي امارت هڅه کوي چې د کابل ښار د اوبو ستونزه حل کړي او په دې برخه کې يې خپلې هلې ځلې جاري ساتلې دي.

## پایله

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د قزاقستان د لومړي وزير د مرستيال ترمنځ په ليدنه کې تر ټولو مهمه موضوع د اقتصادي همکاريو لار نقشه وه. ددې لار نقشې په عملي کيدو سره به د افغانستان په بېلا بېلو سکتورونو کې پرمختګونه رامنځته او اقتصادي وده به چټکه شي. په دې اړه هېوادوالو په خپلو تبصرو کې دا چاره  د افغانستان په ګټه بللې ده. په رښتيا هم که دا لار نقشه عملي بڼه خپله کړي، نو له يوه لوري به په بېلا بېلو سکتورونو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شي او له بل لوري به زموږ د سوداګرۍ او ترانزيټ کچه لوړه شي. په دې سره به زموږ

صادرات نه يوازې قزاقستان، بلکې د منځنۍ اسيا په ګډون د نړۍ نورو هېوادونو ته هم زيات شي. دغه راز به د کانونو د استخراج، صنعت، بانکوالۍ، مالي بازارونو په پياوړتيا، کرنې او مالدارۍ او دغه راز نورو برخو کې پرمختګونه رامنځته شي. دا چاره بيا د دې لامل ګرځي چې په کور دننه به د بېلا بېلو توليداتو د کچې په زياتيدو سره د هېوادوالو اقتصادي وضعيت هم پياوړی شي او په ټوله کې به سوداګري پراختيا ومومي. د دې ترڅنګ به نه يوازې د افغانستان اقتصاد غښتلی او پر خپلو پښو ودرېږي، بلکې دا به د سيمه ييز اقتصاد په پياوړتيا او پرمختګ کې هم مهم رول ولوبوي.

۵

# د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه جوړه شوه



پانګونه د اقتصادي ودې، کارموندنې، د تولید زیاتوالي او د خلکو د هوساینې لپاره حیاتي ارزښت لري. هر هېواد چې د پانګونې لپاره خوندي، شفاف او مناسب چاپېریال رامنځته کړي، کولی شي اقتصادي پرمختګ، د فقر کمښت او دوامداره سوکالي ترلاسه کړي. له همدې امله، حکومتونه باید د پانګونې د جلب او جذب لپاره اغېزناکې پالیسۍ او لارښودونه جوړ او عملي کړي، ترڅو د هېواد اقتصادي بنسټونو کې د پانګونې کچه لوړه او اقتصادي وده رامنځته شي. د افغانستان اسلامي امارت دپانګونې د جلب او جذب برخې ته خپل پام ور اړولی او په دې برخه کې یې ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. د ۱۴۰۵ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په اوومه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. په غونډه کې د نوې کورنۍ او بهرنۍ پانګې د هڅونې او جذب لپاره د مالیاتي او ګمرکي معافیت د تطبیق پر لارښود بحث وشو. له بحث وروسته تاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د دغه لارښود د لا غني کېدو په موخه تخنیکي مجلسونه ترسره او نهایي شوې بڼه یې د اقتصادي کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي.په دې غونډه کې د تخار ولایت په مرکز تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم تایید شوه. د طرحې له مخې به خصوصي سکټور د ۱۱۰ میلیون افغانیو په پانګونې سره اووه پوړیز سوداګریز مارکېټ جوړ کړي، چې لسګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې اړوندو ادارو ته یې په اړه لازمې لارښوونې وشوې.

## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې جوړېدو موخه:

موخه یې د پانګې جلب او جذب او پرمتې یې د زیربناوو رغول دي.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډې جوړېدو) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۶۵ مثبت نظرونه، ۶۳ منفي نظرونه او ۴۵ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۹.۵٪ مثبت نظرونه، ۱۹٪ منفي نظرونه او ۱.۵٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مو ړ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. دا دېرزیات مهم ګام دی مونږ ټول له بېکاری څخه په تنګ راغلي یو.

۲. مصرفي هېوادونه مارکیټونه او صنعتي هېوادونه کارخونې جوړوي.

۳. پرولس رحم وکړئ ولس په فقراو تنګ لاسی کې ژوند کوي. مالیات ورته معاف یا را ټیټ کړئ ترڅو خلک له دې تنګ لاسی څخه خلاص شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی:** هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د نوې پانګونې د جذب په موخه د اسانتیاوو پر رامنځته کولو خوښي ښودلې، خو په هېواد کې د بېکارۍ له امله یې سرټکولی دی. دوی په هېواد کې دننه د کاري فرصتونو رامنځته کېدو غوښتنه کړې ده. بېکاري د هېوادوالو پر ژوند ناوړه اغیز کوي او ټولنیزې ستونزې ایجادوي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کړې چې په هېواد کې د بېکارۍ کچه راټیټه، خلکو ته د کارزمینه برابره او د هغو ځوانانو د تګ مخه ونیسي چې اوسمهال په ناقانونه ډول له هېواده وځي. اسلامي امارت په خپل حاکمیت کې د اقتصادي ودې او د بېکارۍ کچې راکمولو له پاره عملي ګامونه پورته کړي دي. د لویو لارو ترڅنګ یې د کانونو استخراج، اوسپنې پټلۍ جوړولو، صنعت، کرنې، روغتیا، سوداګرۍ، د اوبو مدیریت، بهرته د ماهرو کارګرانو قانوني لېږد په ګډون یې د بېکارۍ کچې راکمولو له پاره مهم ګامونه پورته کړي دي. له دې سره په زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کارزمینه برابره شوې ده. د اسلامي امارت هڅه داده چې د بېکارۍ ستونزې ته په بشپړ ډول پای ورکړي.
- **دویم:** ځینو هېوادوالو بیا په خپلو نظرونو کې دا خبره کړې چې کوم هېوادونه مصرفي وي هغه مارکېټونه جوړوي او صنعتي هېوادونه بیا فابریکې او کارخونې جوړوي. په دې کې شک نشته چې صنعت د یوه هېواد د پرمختګ اصلي لامل دی. هغه هېوادونه چې د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېدلي دي، ډېری یې د صنعت په برکت دي. هر هېواد کوښښ کوي چې د نورو سکټورونو ترڅنګ د صنعت سکټور غښتلی او د پرمختګ په لور روان کړي. د صنعت په وسیله تولید کیږي او تولید شوي توکي بیا د هېواد په دننه کې د هېوادوالو اړتیاوې پوره کوي او په خوا کې یې همدا تولید شوي محصولات له هېواد څخه بهر صادریږي او ورسره یې سوداګري پراخه او د عوایدو کچه لوړېږي. هر څومره چې د هېواد عواید زیات شي، نو اقتصادي تحرک رامنځته کیږي. اسلامي امارت د

صنعت اهميت ته په کتو په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي. د اوسپنې ويلې کولو له صنعت څخه نيولې بيا د درملو، پلاستيکي مصنوعاتو، سيمنټو او دې ورته تولو برخو کې يې توليدي فابريکې يا فعالې کړې او يا يې هم د پانګې په جذب سره د خصوصي سکټور له لوري فعالې شوې دي. په وروستيو کې د صنعت او سوداګرۍ وزير د صنعت او کانونو اوونۍ پينځم نړيوال نندارتون پای غونډې مراسمو کې وويل، افغانستان دا مهال په ګڼو سکټورونو کې ځان بسيا ينې ته رسېدلی. ښاغلي نورالدين عزيزي زياته کړې، د اسلامي امارت په راتګ سره په بېلابېلو برخو کې د توليدي توکو شمېر له ۵۰۰ څخه دوه زره ته لوړ شوی دی. د صنعت او سوداګرۍ د وزير په وينا چې د صنعت د ملاتړ لپاره د صنعتي برخو تعرفه يو سلنې ته راکمه شوې ده. همدارنګه، تېر کال شاوخوا ۵۷۶ کارخونو ته ځمکې ورکړل شوې او له بېلابېلو لارو يې ملاتړ شوی دی. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د توليدي فابريکو جوړولو او صنعت سکټور ودې او پرمختګ ته ژمن دی. د ښاري اقتصاد د رغونې له پاره اړينه ده چې ښارونه په معياري ډول پراختيا ومومي، څو سوداګري ورسره پراخه شي. د ښاري نظم او د ښاري اقتصاد د ودې له پاره اړينه ده چې موږ سوداګريز مارکيټونه هم ولرو. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د هېواد په بېلا بېلو سترو ښارونو کې د سوداګريزو مارکيټونو جوړولو ته مخه کړې ده. څو ښارونه پراخ او سوداګري ورسره وده وکړي.

✓ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو د مالياتو د معاف کېدو او يا هم د ټيټېدو وړانديز کړی دی. په دې وروستيو کې د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی له لوري په څلورو برخو کې ماليات راکم شول. دغه اقدام د پانګونې د ملاتړ، د اقتصادي فعاليتونو د ودې او پر خلکو او خصوصي سکټور د مالي فشار د کمولو په موخه ترسره شوی دی. د کانونو له را ايستونکو شرکتونو پرته، د ټولو حقوقي اشخاصو، په ګډون د شرکتونو او خصوصي روغتونونو، د عايداتو ماليه ۱۰ سلنې ته راټيټه شوې ده. د حقيقي اشخاصو د ماليې د معافيت کلنی حد له ۶۰ زره افغانيو څخه ۱۲۰ زره افغانيو ته لوړ شوی دی او هغه کسان

چې کلنی عاید یې تر دې اندازې پورې وي، له مالیې ورکولو معاف دي. اسلامي امارت دې ټکي ته متوجه دی او د امکان تر حده یې مالیې راکمې کړې دي.

## پایله

د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې تر ټولو مهمه موضوع د نوې کورنۍ او بهرنۍ پانګې د هڅونې او جذب لپاره د مالیاتي او ګمرکي معافیت د تطبیق پر لارښود بحث و. اسلامي امارت غواړي چې د مالیاتي او ګمرکي معافیت له لارې کورنۍ او بهرنۍ پانګه وهڅوي او جذب یې کړي. د پانګې په جذبېدو سره به افغانستان ددې جوګه شي چې خپلې زیربناوې ورغوي او له دې سره به سوداګریزې چارې هم ګړندۍ شي. هېوادوالو د دې خبر هرکلی کړی دی او دداسې لارښود تطبیق یې د پانګې د جذب له پاره یو مهم ګام بللی دی. په رښتیا هم دغه لارښود چې تطبیق شي، افغانستان به وکولای شي د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه هم جذب کړي او پرمټ یې د هېواد بېلا بېل سکټورونه پر خپلو پښو ودروي او اقتصادي تحرک او پرمختګ ته لار هواره کړي.

۶

# د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختيايي پلان منظورشو



برېښنا د اقتصادي ودې له پاره مهم فکتور بلل کېږي. د اقتصاد هر سکټور په يوه نه يو ډول برېښنا ته اړتيا لري. که موږ غواړو برېښنا توليد کړو، اړ يو چې له طبيعي زېرمو، پرمختللې ټکنالوژۍ او بشري ځواک څخه ګټه پورته کړو. نن سبا د برېښنا سکټور ته بايد ځانګړې پاملرنه وشي، ځکه هېڅ کار له برېښنا پرته سرته نه شي رسېدلی. افغانستان د برېښنا د توليد له پاره پرېمانه اوبه، تيل او ګاز، د ډېرو سکاره او ترڅنګ يې لمر او باد هم لري چې کولی شي برېښنا توليد کړي. د برېښنا اهميت او اقتصادي ارزښت ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت د برېښنا په برخه کې شته ستونزو ته د پای ورکولو په موخه کوټلي ګامونه پورته کړي دي. وروستی اقدام چې د برېښنا په برخه کې اخيستل شوی دی هغه د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختيايي پلان دی، چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون له لوري تایید او د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري منظور شو. په دې پلان کې له کورنيو سرچينو لکه اوبو، لمر، باد او ډېرو سکرو څخه د برېښنا توليد ۲۵ پروژې، د برېښنا لېږد مزي غځولو ۱۳ نيمګړې او ۲۳ پلان شوې پروژې، د سب‌سټېشنونو جوړولو ۲۱ نيمګړې او ۲۱ پلان شوې پروژې او د برېښنا توزيع ۳۴ پلان شوې پروژې په پام کې نيول شوي دي. د دغو پروژو د چارو په بشپړېدو سره به د انرژۍ په سکټور کې د پام وړ پراختيا او پرمختګ رامنځته او پر وارداتي برېښنا به اتکا راکمه شي. د دغه پلان تطبيق به د هېواد په اقتصادي بيارغونه او د مالي خپلواکۍ په پياوړتيا کې د انرژۍ سکټور رول لا مؤثر کړي، څو د ځان بسياينې او د انرژۍ د خونديتوب پر بنسټ ټاکل شوي اهداف ترلاسه شي.

## د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختيايي پلان د منظورېدو موخه:

موخه يې د خپلې اړتيا وړ برېښنا چمتو کول او پر مټ يې اقتصادي بيارغونه او مالي خپلواکي ترلاسه کول دي.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان منظورېدو) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۴۵۵ مثبت نظرونه، ۲۸ منفي نظرونه او ۷ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې يې ٪۹۳ مثبت نظرونه، ٪۶ منفي نظرونه او ٪۱ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. که افغانستان ځوک ابادول غواړي بايد برېښنا او تعليم ته پاملرنه وکړي.

۲. د دغه ستر پلان عملي کول کولی شي هېواد له فقر او بې‌کارۍ څخه خلاص کړي، موږ يې نه تنها ملاتړ کوو، بلکې له خپل توان سره په دې برخه کې هر ډول مرستې ته هم چمتو يو.

۳. برېښنا د يو هېواد د وګړو د سهولت او د اقتصادي پرمختګ له پاره بيخي ضروري ده.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✓ **لومړی:** يو شمير هېوادوالو په خپلو نظرونو کې دا خبره کړې چې د يوه هېواد ابادي او پرمختګ په برېښنا او تعليم پورې تړلي دي. په رښتيا هم دغه دواړې برخې هغه که برېښنا ده او که تعليم، دواړه د هېواد د پرمختګ، اقتصادي ودې او د خلکو د هوساينې له پاره ډېر مهم دي. که يو هېواد د خپلې اړتيا وړ برېښنا ولري، نو هغه د ژوند په ډېرو برخو کې پرمختګ کولی شي. له برېښنا سره صنعتي فابريکې او سوداګريز مرکزونه فعال او له دې سره د توليد کچه لوړېږي، په بېلا بېلو برخو کې د پانګونې له پاره زمينه برابرېږي او ورسره کاري فرصتونه رامنځته کېږي. که موږ برېښنا ولرو کولی شو له پرمختللو کرنيزو او روغتيايي وسايلو ګټه پورته کړو. د برېښنا په وسيله کولی شو د تعليم کچه لوړه، د خلکو په ژوند کې اسانتياوې رامنځته او عامه خدمتونه وړاندې کړو. هغه هېوادونه چې کافي، ارزانه او دوامداره برېښنا توليدوي، معمولاً قوي اقتصاد، پرمختللی صنعت، غوره روغتيايي او تعليمي خدمات او د خلکو د ژوند لوړ کيفيت لري. ددې ترڅنګ تعليم د هر انسان حق او د هر ملت د بريا مهمه وسيله ده. هغه هېوادونه چې د تعليم ارزښت ته پاملرنه کوي، په اقتصاد، ساينس، روغتيا او ټکنالوژۍ کې چټک پرمختګ کوي. له همدې امله، په تعليمي سکټور کې پانګونه د روښانه راتلونکي له پاره تر ټولو غوره پانګونه ده. که چيرې موږ دغه دوه سکټورونه پر خپلو پښو ودروو، کولی شو هېواد مو له ناخوالو خلاص او د پرمختګ او هوساينې په لور يې بوځو.

- ✓ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې نه يوازې ددې پلان هرکلی کړی، بلکې د ياد پلان په تطبيق کې يې خپله همکاري هم شودلې ده او ويلي يې دي چې دغه پلان کولی شي هېواد له فقر او بې‌کارۍ څخه خلاص کړي. هغه حکومتونه بريالي او پرمختګ کولی شي، چې تر شا يې يو قوي ملت ولاړ وي. حکومتونه خپل پلانونه د خپلو وګړو په مرسته او همکارۍ عملي کوي. د حکومت دنده داده چې د هېواد د پرمختګ له پاره پلانونه، پاليسۍ او پروګرام جوړکړي او د ملت دنده بيا داده چې په عملي کېدو کې له حکومت سره لاس ورکړي. افغانستان چې رغول او پرمختګ يې ډېر کار ته اړتيا لري، هېوادوالو ته په کار ده چې د حکومت ملاتړ وکړي او د حکومت د پلانونو په عملي کېدو کې په مستقيم يا غير مستقيم ډول برخه واخلي. دا چې يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د ياد پلان د تطبيق په برخه کې د همکارۍ ژمنه کړې، په اصل کې دوی خپل مسووليت درک کړی او دې ته ورته بايد ټول هېوادوال د حکومت تر شا ودريږي او د ټولو پلانونو او پاليسيو په تطبيق کې خپله ونډه ادا کړي. د نظر خاوندانو بله خبره دا کړې چې ددې پلان په عملي کېدو به کاري فرصتونه رامنځته او ډېرو کسانو ته به د کار زمينه برابره شي. اسلامي امارت د بې‌کارۍ ستونزه درک کړې. په همدې موخه يې د هېواد په کچه په ټولو سکتورونو کې بېلا بېلې پروژې پيل کړې دي. دا مهال په هېواد کې په روانو پروژو، صنعت، کرنې او بېلا بېلو سکتورونو کې زرګونو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شوې ده.
- ✓ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې برېښنا د اقتصادي پرمختګ له پاره اړينه بللې او ويلي يې دي چې برېښنا د يوه هېواد د وګړو له پاره اسانتياوې رامنځته کوي. برېښنا د بشر په پرمختګ او د يوه هېواد د اقتصاد په پياوړتيا کې مهم ارزښت لري. برېښنا په ژوندانه او صنعتي فعاليتونو کې تر ټولو زيات رول لوبولی دی. افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې د برېښنا د توليد له

پاره پراخه سرچينې لري. په نړۍ کې د برېښنا د تولید له پاره په لومړۍ درجه کې اوبه او ورپسې د ډبرو سکاره، یورانیم، تیل او ګاز دي. له بېلا بېلو سرچینو څخه د برېښنا د تولید په اړه ترسره شویو څېړنو دا په ډاګه کړې چې افغانستان کولی شي له اوبو ، لمر، باد او ګازو څخه لسګونه زره میګاواټه برېښنا تولید کړي. د برېښنا اهمیت او په افغانستان کې د هغه د تولیدي سرچینو موجودیت ته په کتو اسلامي امارت هڅه کوي چې په کور د ننه د شته سرچینو څخه برېښنا تولید او د برېښنا له پاره زېربناوې جوړې کړي. همدا وروستی اقدام چې د برېښنا په برخه کې اخیستل شوی دی هغه د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان دی، چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید شوی و او د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري منظور شو. په دې پلان کې له کورنیو سرچینو لکه اوبو، لمر، باد او ډبرو سکرو څخه د برېښنا تولید ۲۵ پروژې، د برېښنا لېږد مزي غځولو ۱۳ نیمګړې او ۲۳ پلان شوې پروژې، د سب‌ستېشنونو جوړولو ۲۱ نیمګړې او ۲۱ پلان شوې پروژې او د برېښنا توزیع ۳۴ پلان شوې پروژې په پام کې نیول شوې دي. د دغو پروژو د چارو په بشپړېدو سره به د انرژۍ په سکتور کې د پام وړ پراختیا او پرمختګ رامنځته او پر وارداتي برېښنا به اتکا راکمه شي. په لنډ ډول ویلی شو چې اسلامي امارت ټولو هغو برخو او زېربناوو ته پاملرنه کړې چې پر مټ یې د افغانستان د صنعت په ګډون، د کرنې، سوداګرۍ او دې ته ورته نور سکټورونه پرمختګ کولی شي. که چېرې په همدې ډول ستري پروژې او د زېربناوو رغول روان وي، ډېر ژر به افغانستان د صنعتي او پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

## پایله

د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان چې د برېښنا د تولید، د برېښنا د غځولو، د برېښنا د ویش او په دې سکتورکې د یو شمیر پلان شویو او نیمګړو پروژو چارې شاملې دي، په عملي کېدو سره به یې، د برېښنا په برخه کې تر یوه حده شته ستونزې هوارې او پر وارداتي برېښنا به اتکا راکمه شي. هېوادوالو هم ددې پلان په اړه خپله خوښي ښودلې او دا پلان یې د هېواد د اقتصادي ودې له پاره یو مهم ګام بللی دی. په رښتیا هم افغانستان اوسمهال برېښنا ته زیات ضرورت لري، ځکه ټول سکټورونه برېښنا ته اړتیا لري. افغانستان د برېښنا د تولید پریمانه سرچینې لري او اسلامي امارت هڅه کوي له دې سرچینو د برېښنا د تولید په موخه استفاده وکړي. اسلامي امارت د برېښنا ارزښت او اهمیت ته په کتو د برېښنا د تولید په برخه کې موثر ګامونه پورته کړي دي.

٧

# د جبل السراج سیمنټو دویمې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وشوه



د افغانستان اسلامي امارت د نورو صنعتونو ترڅنګ د سیمنټو په برخه کې د اړتیاوو پوره کولو په موخه د افغانستان د سیمنټو صنعت پراختیا ته مخه کړې ده. ځینې فابریکې فعالې شوې او د کندهار او هرات ولایتونو د سیمنټو تولیدي فابریکو د جوړولو چارې روانې دي چې په راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه راز د یتیم تاق د سیمنټو فابریکې د جوړولو قرارداد له یوه ترکي شرکت سره لاسلیک شوی او د لوګر د التمور سیمنټو تولیدي فابریکې قرارداد له یو چینایي شرکت سره لاسلیک شوی. اوس دادی د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۸مه نېټه د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالی کې د جبل السراج سیمنټو دویمې لوېې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وشوه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دغه فابریکه د افغانستان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکی او د کورني تولید د پیاوړتیا په برخه کې مهمه وبلله او ویې ویل، د صنعتي بنسټونو پیاوړتیا د بې‌کارۍ په کمولو او د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول لري. محترم ملا صاحب وویل، افغانستان د طبعي زېرمو او بشري قوې په لرلو سره د صنعتي پرمختګ لپاره پراخ امکانات لري او اسلامي امارت هڅه کوي چې هېواد له وارداتي اقتصاد څخه تولیدي او صادراتي اقتصاد ته بدل کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سیمنټ په هېواد کې د زېربنایي پروژو د رغونې او تطبیق لپاره مهم مواد وبلل او زیاته یې کړه، په کور دننه د دې اړینو ساختماني توکو په تولید سره د وارداتو اړتیا کمېږي، له هېواده د اسعارو د وتلو مخنیوی کېږي او په ورته وخت کې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه هم رامنځته کېږي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو پانګوالو وغوښتل چې په افغانستان کې په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونه وکړي. د محترم ملا صاحب په خبره، اوسمهال په هېواد کې امنیت ټینګ شوی، د فساد کچه په بې ساري ډول راټیټه شوې، اداري چارې اسانه شوې او د پانګونې لپاره مناسب او ډاډمن چاپېریال رامنځته شوی دی. محترم ملا صاحب د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د طبیعي منابعو پر سم مدیریت او د حکومت ترڅنګ د خصوصي سکټور او

ولس پر ګډو هڅو هم ټینګار وکړ. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د جبل السراج سیمنټو د دویمې فابریکې له ټولو مسوولینو، انجنیرانو او کارکوونکو وغوښتل، چې دا پروژه په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره بشپړه کړي. د یادونې وړ ده چې د جبل السراج سیمنټو دویمه تولیدي فابریکه به په ورځني ډول د پنځه زره ټنه سیمنټو د تولید وړتیا ولري او زرګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم برابر کړي. د دې فابریکې د تولید په پیل سره به افغانستان د سیمنټو په برخه کې د خودکفا کېدو پر لور بل مهم ګام واخلي.

## د جبل السراج سیمنټو دویمې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو د پرانیستې موخه:

موخه یې د افغانستان د اړتیا وړ سیمنټو چمتو کول او په دې برخه کې ځان بسیاینه ده.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د جبل السراج سیمنټو دویمې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیستې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۵۸۲ مثبت نظرونه، ۵۰ منفي نظرونه او ۹ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۱٪ مثبت نظرونه، ۸٪ منفي نظرونه او ۱ ٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. دا فابريکه به د هېواد له پاره ډېره ستره سرمايه وي. ځکه چې په کال کې موږ ډېر ډالر پر سيمنټو ورکوو چې دا د افغانستان ستر زيان دی.

۲. که وطن کې مو زيات سيمنټ توليد کېدای، اوس به د نړۍ دنګې ودانۍ زمونږ په هېواد کې وي، مګر د سيمنټو کمښت او د قيمت لوړوالي له کبله ټول کارونه ولاړ او نيمګړي پاتې دي.

۳. د سيمنټو يوه فابريکه چې په مشرقي کې جوړه شي ښه به وي، ځکه هم مرکزي ولاياتو ته نږدې دی هم شرقي ولاياتو ته.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ددې خبر هرکلی کړی او دا يې د هېواد له پاره يوه ستره سرمايه بللې او ويلي يې دي چې که موږ خپل سيمنټ توليد کړو، نو وبه کولی شو چې يوه زياته اندازه پيسې سپما کړو. بالکل! اوسمهال افغانستان د سيمنټو صنعت دومره پراختيا نه ده موندلې چې وکولی شي، د افغانستان د اړتيا وړ سيمنټ چمتو کړي. د ځينو شميرو له مخې افغانستان په کال کې له پنځو تر اوو ميليونو ټنو سيمنټو ته اړتيا لري، خو په کور دننه ددې کچې ډېره کمه سلنه سيمنټ توليدېږي او نور له بهر څخه واردېږي. له دې امله هرکال په ميليونونو ډالر د سيمنټو د وارداتو په مقابل کې بهر ته وځي. د جبل السراج د سيمنټو د دويمې توليدي فابريکې د چارو د پرانيستې پرمهال د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هم دې ټکي ته اشاره وکړه او ويې ويل چې سيمنټ په هېواد کې د زېربنايي پروژو د رغونې او تطبيق لپاره مهم دي او په کور دننه د دې اړينو ساختماني توکو په توليد سره د وارداتو اړتيا کمېږي، له هېواده د اسعارو د وتلو مخنيوی کېږي او په ورته وخت کې زرگونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه هم رامنځته کېږي. دې ټکي ته اسلامي امارت متوجه دی او همدا لامل دی چې په هېواد کې دننه يې د سيمنټو د پخوانيو فابريکو د رغولو ترڅنګ، په کندهار، هرات، جوزجان او لوګر کې د سيمنټو د توليدی فابريکو د جوړولو چارې پيل کړې دي او اوس يې په جبل السراج کې هم د سيمنټو د نوې فابريکې جوړول پيل کړل. ددې فابريکو د چارو په بشپړېدو او د توليد په پيل سره به يې تر ډېره بريده د هېواد د سيمنټو اړتيا پوره شي.
- **دويم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې بيا هېواد کې د سيمنټو کمښت او د هغو د بيې لوړېدو ته اشاره کړې ده. اوسمهال په افغانستان کې په کمه اندازه

سيمنټ توليدېږي. دېرى برخه سيمنټ له بهر څخه واردېږي. همدا لامل دى چې دېر کله د سيمنټو کمښت احساسېږي او بيې يې هم لوړې شي. افغانستان د سيمنټو د توليد له پاره په کافي اندازه کاني مواد لري، خو د سيمنټو صنعت لکه څنګه چې په کار ده هسې پراختيا نه ده موندلې. دا ستونزه اوسمهالې نه ده، بلکې له دېرې پخوا راهيسې دا ستونزه شته. ددې ستونزې د هوارې په موخه اسلامي امارت د سيمنټو صنعت ته مخه کړې ده او د هېواد په بېلا بېلو ولايتونو کې يې د سيمنټو د توليدي فابريکو د جوړولو چارې پيل کړې دي. د سيمنټو د توليد په زياتوالي سره به هم د سيمنټو د کمښت ستونزه هواره شي او هم به يې بيې راټيټې شي. خو دا چاره وخت ته اړتيا لري. نو په کار داده چې هېوادوال هم دداسې يو ستر صنعت په بشپړ دول غوړېدو ته يو څه انتظار شي. اسلامي امارت چې اوس د سيمنټو د توليد په برخه کې کومې هلې ځلې پيل کړې دي، که په همدې دول روانې وي، نو افغانستان به نه يوازې د سيمنټو په برخه خودکفا، بلکې د وخت په تېرېدو سره به ځيل اضافي سيمنټ بهر ته هم صادر کړي.

- **دريېم:** يو شمېر د نظر خاوندانو له اسلامي امارت څخه غوښتي چې د هېواد په ختيځ کې دې د سيمنټو يوه فابريکه جوړه کړي. اسلامي امارت د افغانستان متوازن انکشاف او پرمختګ ته ژمن دى. تر دې مهاله د هېواد په بېلا بېلو ولايتونو کې د زيربناوو د جوړولو او د بيارغونې چارې روانې دي. البته لومړيتوبونه په پام کې نيول کيږي. بله دا چې د سيمنټو فابريکې زياتره په هغو ولايتونو کې جوړېږي چيرې چې د سيمنټو د توليد معدني مواد شته او کيفيت يې هم لوړ دى. اوسمهال چې په کومو ولايتونو کې د سيمنټو فابريکو د جوړولو چارې روانې دي، هلته د سيمنټو د توليد باکيفيته معدني مواد شته دي. که چيرې ختيځو ولايتونو کې هم دا دول مواد موجود وي، اسلامي امارت حتما په دې ولايتونو کې هم د سيمنټو توليدي فابريکې جوړوي. بله دا چې اسلامي امارت هڅه کوي چې په داسې زيربناوو کې

کورنۍ او بهرنۍ پانګه هم جذب کړي. همدا چې د اسلامي امارت له لوري امکانات برابر شي او په يادو ولايتونو کې د سيمنټو د توليد معدني مواد موجود وي، په راتلونکي کې به د سيمنټو د توليد فابريکې هلته هم جوړې شي.

## پایله

د جبل السراج سيمنټو د دويمې توليدي فابريکې د جوړېدو يوه موخه داده چې په هېواد کې د سيمنټو صنعت پراختيا ومومي او پرمټ يې په دې برخه کې شته ستونزې تر يوه بريده راکمې شي. دغه راز په کوردننه د سيمنټو په توليد سره به موږ وکولی شو چې خپله داخلي اړتيا له خپلو داخلي توليداتو پوره کړو. په دې سره يوه بله اقتصادي ګټه داده چې کومې پيسې اوس د سيمنټو په مقابل کې بهر ته وځي، د هغو به مخنيوی وشي او ورسره به زرګونو کسانو ته د سيمنټو په توليدي فابريکو کې د کار زمينه برابره شي. دا ټول هغه څه دي چې د هېواد اقتصادي ودې ته لار هواروي. د هېوادوالو په نظرونو کې هم دا خبره جوته شوه چې دوی ټول د داسې سترو پروژو د پيل هرکلی کوي. هېوادوالو دداسې نورو پروژو د پيل غوښتنه هم کړې او په خپلو تبصرو کې يې ويلي چې د سيمنټو په توليد سره به افغانستان د خپلو زيربناوو په رغولو کې له خپلو سيمنټو په ګټې اخيستنې سره ډېره سپما وکړي او هغه بيا کولی شو چې د هېواد په نورو برخو کې يې ولګوو. د سيمنټو صنعت په غوړېدو سره به افغانستان په اقتصادي لحاظ پرمختګ وکړي.

۸

# عزيزي انرژۍ شرکت د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید لپاره ټول تخنيکي وسایل پيرلي



افغانستان د برېښنا د توليد له پاره پراخې سرچينې لري. د برېښنا دغه سرچينې د زرګونو ميګاواټو برېښنا د توليد ظرفيت لري. مګر په تېر کې له دې سرچينو د افغانستان د اړتيا وړ برېښنا د توليد له پاره ګټه نه وه پورته شوې، خو د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د برېښنا د توليد په برخه کې هڅې پيل او اوسمهال له اوبو، لمر، باد او ډبرو سکرو څخه د برېښنا د توليد يو شمير پروژې پيل شوې دي. د ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۱مه د اوبو او انرژۍ وزارت او عزيزي انرژي خصوصي شرکت تر منځ د ۱۰ ميليارده ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد، لېږد او ويش په برخه کې هوکړه لاسليک شوه. له هوکړې وروسته د عزيزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري ددې ستري پروژې لومړنی چارې هم پيل شوې. په همدې موخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۳۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال ښاغلي ميرويس عزيزي او د هغه له تخنيکي ټيم سره وکتل.

د عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت عمومي رييس ميرويس عزيزي وويل، د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليد لپاره يې ټول تخنيکي وسايل پېرلي چې ژر به يې هېواد ته د لېږد چارې پيل کړي. هغه زياته کړه، په نږدې وخت کې به په هېواد کې د سرطاني ناروغيو د درملنې لوی روغتون د جوړولو کارونه هم پيل کړي.

ورپسې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت په مشرۍ د اړوندو امارتي ادارو او عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت له استازو څخه جوړې شوې تخنيکي کمېټې خپل راپور وړاندې کړ. د راپور له مخې، د کابل ولايت په نغلو سيمه کې د ۱۰۰ مېګاواټه لمريزې برېښنا، د پروان ولايت په باريک‌اب سيمه کې د ۱۰۰ مېګاواټه لمريزې برېښنا او په غزني ولايت کې د ۱۳۱ مېګاواټه لمريزې برېښنا پروژو د امکان سنجۍ مطالعات بشپړ او د برېښنا د پېر ترونونه يې لاسليک شوي. کمېټې په خپل راپور کې زياته کړه چې په ساحو کې عملاً د پروژو چارې پيل شوې دي. د دې ترڅنګ، په تخار ولايت کې له ډبرو سکرو څخه د ۱۶۵

مېګاواټه برېښنا، په بغلان ولایت کې له دبرو سکرو څخه د ۳۵۰ مېګاواټه برېښنا، د نغلو او غزني سب‌ستېشنونو جوړولو او د کابل ولایت له تره‌خېل سیمې څخه تر صنایع سبز پورې د انتقالي لین غځولو پروژو پر تخنیکي موضوعاتو بحثونه جریان لري، چې ژر به نهایي شي. دې کمېټې د کارونو د چټکتیا په موخه خپل وړاندیزونه هم شریک کړل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دې کمېټې د لاسته راوړنو ستاینه وکړه او اړوندو امارتي ادارو ته یې د کارونو د لا چټکتیا په موخه لازمې لارښوونې وکړې او سپارښتنه یې وکړه چې د دوو اوونیو په جریان کې دې په یو شمېر برخو کې پاتې کارونه بشپړ او راپور دې د اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او ترې وې غوښتل چې خپل کارونه په ښه ډول او ټاکلي وخت بشپړ کړي.

## عزیزي انرژۍ شرکت له لوري د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید لپاره د تخنیکي وسایلو پېرلو موخه:

موخه یې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید پروژو د چارو عملي پیل او بشپړول دي.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (عزیزي انرژۍ شرکت له لوري د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید لپاره د تخنیکي وسایلو پېرلو) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۵۵۸ مثبت نظرونه، ۹۲ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۴٪ مثبت نظرونه، ۱۴٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. ډېر ښه اقدام شوی دی، خو فعلا له برق نه کابل کې د اوبو ستونزه ډېره محسوسیږي او خلک دپاکو اوبو د نشتوالي له امله ډېر په تنګ دي.

۲. زما په نظر ترنورې بریښنا د بندونو جوړول مهم دي.

۳. عزیزي صیب په تا ویاړکوو. ددغه پروژو تر څنګ که یو ښه روغتون هم جوړکړی او داسې پرسونل ورته انتخاب کړي چې ټول لیاقت ولري، نو ډېره به ښه وي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✓ **لومړی:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ددې خبر هرکلی کړی، خو ویلي یې دي چې کابل کې د ښاک اوبو د نشتوالي ستونزه ده او د دې ستونزې د هواري غوښتنه یې کړې ده. د څو پر له پسې کلونو وچکالی، اقلیمي بدلونونو، د خلکو له خوا د زیاتو اوبو مصرفولو او له ژورو څاګانو څخه د لمریزې برېښنا په مرسته د پرېمانه اوبو را ایستل ټول هغه لاملونه دي، چې وچکالي او تر ځمکې لاندې اوبو کچه یې کمه کړې ده. له دې اغېزو څخه کابل ښار هم بې برخې نه دی پاتې شوی. دا ستونزه اوس نه، بلکې له شلو کالو راهیسې راروانه ده او ورځ تربلې په دې ښار کې د اوبو کچه مخ په ټیټېدو ده. په تیرو حکومتونو کې نه د ښار د ماسټرپلان تطبیق ته پاملرنه وشوه او نه یې هم د کاناليزاسيون چارو ته ډېره توجه وشوه. ددې ترڅنګ په ښار کې تر ځمکې لاندې اوبو د کچې لوړولو له پاره کوم داسې پلان نه و چې له مخې یې وکولی شي دا اوبه زیاتې او تغذیه کړي. که چیرې هغه مهال دې تکو ته پاملرنه شوې وای اوس به د کابل ښار اوسېدونکي له دومره زیاتو ستونزو سره مخ نه وو. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دې برخې ته پاملرنه شوې ده. د اسلامي امارت لومړنی ګام دا و چې په کابل ښار او شاوخوا سیمو کې یې د ژورو څاګانو په کیندلو بندیز ولګاوه او اوسمهال چاته ددې اجازه نه ورکول کېږي چې په خپل سر داسې څاګانې وباسي. دویمه دا چې تر ځمکې لاندې اوبو د تغذیې پروژه د ښار په ځینو سیمو کې عملي شوه. په دې پروژه کې د کابل او شاوخوا ولسوالیو د غرونو په لمنو او غونډیو کې زابرونه وایستل شول چې پر مټ یې د واورې او باران اوبه زېرمه او تر ځمکې لاندې اوبو په تغذیه کې مهم رول لوبوي. ددې په خوا کې د اقتصادي کمېسیون له لوري د پنجشیر له سیند څخه د اوبو د نل‌لیکې د غځولو طرحه تایید شوې ده. دې او دې ته ورته ځینې نورې پروژې هم تر لاس لاندې شته چې پر مټ به یې د کابل ښار د اوبو ستونزه هواره شي.

- ✓ **دویم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د برېښنا د تولید له پاره د بندونو جوړولو غوښتنه کړې ده. دا یو واقعیت دی چې افغانستان پریمانه اوبه لري که چیرې پرې بندونه جوړ او برېښنا تولید کړي، دومره برېښنا تولیدېږي چې کولی شي د افغانستان د اړتیا وړ برېښنا برابره او ان اضافي برېښنا بهر ته صادره کړي. اسلامي امارت د اوبو د هغو بندونو د بیارغونې چارې پیل کړې چې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو ترڅنګ برېښنا هم تولید کړي. په هېواد کې د برېښنا د تولید ځینې بندونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول او په ځینو یې لا هم کار روان دی. د اوبو بندونو د جوړولو له پاره بودیجې ته اړتیا شته او د بودیجې او امکاناتو د چمتو کېدو په صورت کې به د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د برېښنا د تولید نوي بندونه هم جوړ شي. اسلامي امارت یوازې اوبیزې برېښنا ته نه، بلکې په هېواد کې د برېښنا د تولید نورو سرچینو لکه لمر، باد او ډبرو سکرو ته هم پام اړولی او په دې برخو کې یې له خصوصي سکټور سره د بېلا بېلو پروژو تړونونه لاسلیک کړي چې له دې جملې ځینې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د هېواد په مختلفو ولایتونو لکه هرات، لوګر، لغمان او نورو ولایتونو کې د لمریزې برېښنا پروژې تر کار لاندې دي. دغه راز، د لس ملیارد ډالرو په پانګونې د لس زره میګاواټو برېښنا د تولید پروژو څخه د ځینو لومړنۍ چارې روانې دي چې په بشپړېدو سره به یې هېواد کې د برېښنا کچه لوړه شي.
- ✓ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو بیا له ملي سوداګر میرویس عزیزي څخه غوښتي چې د برېښنا د تولید ترڅنګ دې پر ټولو معیارونو برابر د سرطاني ناروغیو روغتون جوړ کړي. افغانستان چې له کلونو راهیسې جګړو ځپلی او بنسټونو جوړولو ته یې ځانګړې پاملرنه نه ده شوې، په رښتیا هم چې د هر سکټور زېربناوو جوړولو ته اړتیا لري. د عامې روغتیا سکټور هم یو له دغو سکټورونو څخه دی، چې ډېرې توجه ته اړتیا لري. اوسمهال په هېواد کې د موجودو روغتونونو له لارې هېوادوالو

ته روغتیايي خدمات وړاندې کېږي. یو شمېر هېوادوال د ځینو سختو ناروغیو د درملنې په موخه بهرنیو هېوادونو ته ځي. اسلامي امارت د عامې روغتیا سکتور د پیاوړتیا او معیاري کېدو له پاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي، خو که ددې ترڅنګ خصوصي سکتور هم په دې برخه کې پانګونه وکړي، نو د ډېرو هغو ناروغیو درملنه به وشي، د کومو ناروغیو د درملنې په موخه چې هېوادوال نورو هېوادونو ته د تګ لپاره اړ دي. میرویس عزیزي چې یو ملي تجار دی، په افغانستان کې یې د سرطاني ناروغیو د معیاري روغتون د جوړېدو خبره کړې ده. تمه کېږي چې په نږدې وخت کې به ددې روغتون چارې پیل شي، چې د فعالیت له پیل سره به یې هېوادوال دې ته اړ نه وي چې د درملنې په موخه بهر ته ولاړ شي.

## پایله

په افغانستان کې د برېښنا دوامداره کمښت یوه جدي او حیاتي ستونزه ده، چې هم پر ورځني ژوند منفي اغېز کوي او هم د هېواد د صنعتي سکتور د پراختیا لپاره لوی خنډ ګڼل کېږي. دا وضعیت د عامو وګړو د هوساینې مخه هم نیسي. په داسې حال کې چې افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د برېښنا د تولید له پاره پراخې سرچینې لري. په افغانستان کې د دغو سرچینو له ډلې یوازې له اوبو څخه هغه هم په ډېره کمه پیمانه ګټه اخیستل شوې، خو پاتې نورې سرچینې بې ګټې پاتې دي. اسلامي امارت د برېښنا ارزښت ته په کتو په خپله په هېواد کې د برېښنا د تولید ځینې پروژې پیل کړې او هم یې خصوصي سکتور ته په دې برخه کې د پانګونې بلنه ورکړې ده. له دې جملې څخه عزیزي انرژۍ شرکت د لس میلیارد ډالرو په ارزښت د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید پروژو تړون لاسلیک کړی او اوس ددې پروژو له ډلې یې د ځینو لومړنۍ چارې پیل شوې دي. د یادو پروژو له پاره د تخنیکي وسایلو په پیرلو او هېواد ته په رالیږدولو سره به ددې پروژو چارې نورې هم ګړندۍ شي. هېوادوالو په ټولنیزو شبکو کې په خپلو تبصرو کې ددې

کار هرکلی کړی او ویلي یې دي چې په دې سره به په هېواد کې د برېښنا ستونزې هوارې او هېواد به په بېلا بېلو سکټورونو کې پرمختګ وکړي.

۹

# د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ نندارتون پرانیستل شو



ټکنالوژي د بشریت له مهمو لاسته راوړنو څخه ده چې د انسانانو په ژوند کې یې لوی انقلاب راوستی دی. نن ورځ د ژوند نږدې هېڅ برخه د ټکنالوژۍ له کارولو پرته مخې ته نه ځي، له اړیکو نیولې تر زده کړې، روغتیا، او سوداګرۍ پورې هر څه په عصري وسایلو ولاړ دي. له دې جوته شوه چې ټکنالوژي د هر هېواد د اقتصادي پرمختګ بنسټ جوړوي، ځکه د هغې په مرسته تولید زیاتېږي، لګښتونه کمېږي، کاري فرصتونه رامنځته او د خلکو د ژوند کچه لوړېږي. د افغانستان اسلامي امارت هم د ټکنالوژۍ اهمیت ته په کتو په دې برخه کې ګامونه پورته کړي دي. د ټکنالوژۍ د اهمیت او ټکنالوژیکي وسایلو د معرفي کېدو په موخه یې نندارتون جوړ کړی و. د مخابراتو او ټکنالوژۍ په برخه کې دغه لومړنی نندارتون د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ځلورمه نېټه د افغانستان نړیوال نندارتون مرکز کې پرانیستل شو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نندارتون په پرانیستغونډه کې وویل چې په اوسني عصر کې د ټکنالوژۍ پرمختګ او د اړیکو د ټینګولو وسایل د هېوادونو د مهمو لومړیتوبونو په سر کې قرار لري او دې پرمختګ د نړۍ د سیالۍ ډګر ګرم ساتلی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د عصر د غوښتنې مطابق د ټکنالوژۍ او مخابراتو په برخه کې پرمختګ کول زموږ ستر مسوولیت دی او اسلامي امارت غواړي چې په تدریجي توګه له خپلو موجوده امکاناتو څخه په ګټه اخیستنې ځان په دې برخه کې له سیمې او نړۍ سره سیال کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې برخه کې د سیمې د اتصالي نقطې په توګه د هېواد جغرافیوي موقیعت مهم وباله او ویې ویل، «افغانستان کولی شي جنوبي اسیا له منځنۍ اسیا سره د ډېټا د ترانزیټ په برخه کې وصل کړي.» محترم ملا صاحب وویل، د اسلامي امارت په بیاځلې حاکمیت سره افغانستان د مخابراتو او ټکنالوژۍ په برخه کې پرمختګونه کړي، ډېرې محرومې سیمې تر مخابراتي پوښښ لاندې راغلې، په ډیجیټلي حکومتولۍ کې مهم پرمختګونه شوي، چې ښه بېلګه یې د امارتي ادارو لپاره د رسمي اسنادو جوړ شوي سیستم تطبیق دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ټکنالوژۍ د فرهنګ

د ترويج او بهبود په برخه کې د دې نندارتون جوړېدل مهم وبلل او زياته يې کړه چې د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره په کارونو کې شفافيت، د عوايدو سم مديريت، د وخت سپما، د پروسو اسانتيا او په چارو کې د خطا کمول تضمينوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، له نړۍ سره د سيالۍ او مساوي پرمختګ لپاره اړينه ده چې د ژوند په هره برخه کې د پرمختللې ټکنالوژۍ له صنعت څخه استفاده وکړو او زياته يې کړه «دا مسووليت هم شرعا او هم اخلاقا موږ او تاسې ته راجع دی چې ځانونه له نړۍ سره سيالان کړو.» د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال دغه نندارتون د افغان ځوانانو د استعدادونو د ودې، د دوی له نوښتونو څخه د ملاتړ او د تخنيکي پروګرامونو له لارې د هېواد د مبتکر نسل لپاره اړين وباله او هيله يې څرګنده کړه، چې د داسې نندارتونونو په اساس به د اسلامي امارت، خصوصي سکتور، علمي بنسټونو او نوښتګرو ځوانانو ترمنځ همکاري زياته او ګران هېواد به د ټکنالوژۍ او ډيجيتلي پرمختګ په ډګر کې نور هم مخکې ولاړ شي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې د بې‌کارۍ ستونزو دحل په برخه کې هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په ټول توان هڅه کوي، چې په هېواد کې دننه هېوادوالو ته د کار زمينه برابره کړي. محترم ملا صاحب وويل، په همدې موخه اسلامي امارت په مختلفو سکټورونو کې لويې پراختيايي پروژې پيل کړې دي، سوداګرۍ وده کړې او د خصوصي سکټور د فعاليتونو د اسانتيا لپاره مالياتي تخفيفونه ورکړل شوي، چې ډېرو هېوادوالو ته پکې د کار زمينه برابره شوې، خو په خبره يې، د بې‌کارۍ کچې کمولو په موخه لا نورو هڅو ته اړتيا ده.

## د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ نندارتون د پرانيستې موخه:

موخه يې د ټکنالوژۍ ترويج او په دې برخه کې پرمختګونه دي.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هیوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ننداارتون پرانیستې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۵۷۸ مثبت نظرونه، ۶۴ منفي نظرونه او ۵ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۹٪ مثبت نظرونه، ۱۰٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. که ربښتیا هم د وخت له اړتیاوو سره سم د مخابراتو او ټکنالوژۍ پراختیا د اسلامي امارت له اساسي مسوولیتونو څخه وي، نو باید د خلکو اساسي اړتیاوو ته هم جدي پاملرنه وشي. په ډېرو سیمو کې انټرنېټ ډېر ګران، کمکیفیته او د خلکو د اړتیاوو مطابق کار نه کوي. خلک د چټک، ارزانه او باکیفیته انټرنېټ غوښتنه لري. د

ټکنالوژۍ پرمختګ هغه وخت معنا لري چې عام خلک یې په مناسب قیمت او ښه کیفیت وکارولی شي.

۲. مخابرات او ټکنالوژي د نن ورځې د پرمختګ بنسټ دی. که په رښتیا د هېواد د پرمختګ لپاره کارکوو، نو باید ځوانانو ته د ټکنالوژۍ د زده‌کړې، کار او نوښت زمینه لا پراخه شي. افغانستان داسې ځوان نسل لري چې که امکانات، معیاري زده‌کړه او مناسب فرصتونه ورکړل شي، کولی شي د نړۍ له پرمختللو هېوادونو سره سیالي وکړي. هیله ده د ټکنالوژۍ دا پرمختګ یوازې تر ننداړتون پورې محدود نه شي، بلکې د هېواد هر ولایت او هر ځوان ته یې ګټه ورسېږي.

۳. باید د بغلان، پروان او کابل دویم لین سرک قرارداد منظور شي، ځکه دا لاره د اتو ولایتونو لاره ده او بل منځنۍ اسیا ته د تجارت لاره ده.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✓ **لومړی:** یو شمیر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې له اسلامي امارت څخه غوښتي چې د انټرنیټ بیې دې راکمې کړي او کیفیت دې لوړ کړي. په افغانستان کې دا مهال مخابراتي او د انټرنیټ خدمتونه تر ډېره بریده هېوادوالو ته رسېدلي دي. د اسلامي امارت په راتګ سره بیا تر دې مهاله د مخابراتو په برخه کې پرمختګونه شوي او ډېری هغه سیمې چې له مخابراتي خدمتونو بې برخې وې، هغه تر مخابراتي پوښښ لاندې راغلې دي.  د مخابراتو او ټکنالوژۍ د ننداړتون په پرانیستغونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دې ټکي ته اشاره وکړه. حاجي ملا صاحب وویل، د عصر د غوښتنې مطابق د ټکنالوژۍ او مخابراتو په برخه کې پرمختګ کول زموږ ستر مسوولیت دی او د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې په تدریجي توګه له خپلو موجوده امکاناتو څخه په

ګټه اخیستنې ځان په دې برخه کې له سیمې او نړۍ سره سیال کړي. محترم ملا صاحب وویل، د اسلامي امارت په بیاځلې حاکمیت سره افغانستان د مخابراتو او ټکنالوژۍ په برخه کې پرمختګونه کړي، ډېرې محرومې سیمې ترمخابراتي پوښښ لاندې راغلې، په ډیجیټلي حکومتولی کې مهم پرمختګونه شوي، چې ښه بېلګه یې څه د امارتي ادارو لپاره د رسمي اسنادو جوړ شوي سیستم تطبیق دی. مالومه شوه چې اسلامي امارت د ټکنالوژۍ د پرمختګ او خلکو ته د ټکنالوژیکي خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې کلک هوډ لري. دا چې د انټرنیټ بیې لوړې دي، په دې اړه هم د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او دغه راز اترا اداري له هغو شرکتونو سره چې په هېواد کې مخابراتي او انټرنیټي خدمات وړاندې کوي، وخت پر وخت ناستې کړې، څو د انټرنیټ بیې راکمې او کیفیت یې لوړ کړي. د وخت په تیریدو سره به ان شاالله د مخابراتي خدمتونو او د انټرنیټ بیې راټیټې او کیفیت به یې لوړ شي.

- **دویم:** یو شمېر د نظر خاوندانو په خپلو نظرونو کې مخابرات او ټکنالوژي د نن ورځې د پرمختګ بنسټ بللی او ویلي یې دي چې که په رښتیا د هېواد د پرمختګ له پاره کار کوو، نو باید ځوانانو ته د ټکنالوژۍ د زده‌کړې، کار او نوښت زمینه لا پراخه کړو. د ټکنالوژۍ پرمختګ او په دې برخه کې د ځوانانو روزل د هر هېواد د پرمختګ مهم بنسټ جوړوي. نننۍ نړۍ د معلوماتي ټکنالوژۍ، مصنوعي ځیرکتیا او ډیجیټلي خدمتونو پر لور په چټکۍ سره روانه ده. هغه هېوادونه چې خپلو ځوانانو ته د ټکنالوژۍ زده کړې او عملي مهارتونه برابروي، د اقتصادي ودې، نوښت او سیالۍ په ډګر کې مخکښ پاتې کېږي. ځوانان باید د کمپیوټر، پروګرام جوړونې، انټرنېټي امنیت، ډیجیټلي سوداګرۍ او داسې نورو برخو کې وروزل شي. ښوونځي، پوهنتونونه او مسلکي روزنیز مرکزونه کولی شي د عصري زده کړو له لارې د ځوانانو وړتیاوې لوړې کړي. همدارنګه، د عملي پروژو، سیالیو او روزنیزو ورکشاپونو برابرول د هغوی د مهارتونو په پیاوړتیا کې مهم رول لري. د ټکنالوژۍ

په برخه کې پانګونه نه يوازې د ځوانانو له پاره کاري فرصتونه زياتوي، بلکې د تولنې د پرمختګ، د ستونزو د حل او د نويو کاروبارونو د رامنځته کېدو لامل هم ګرځي. که ځوانان پر عصري ټکنالوژۍ سمبال شي، نو کولای شي د خپل هېواد په اقتصادي، علمي او ټولنيز پرمختګ کې اغېزناکه ونډه واخلي. د ټکنالوژۍ همدې اهميت ته په کتو اسلامي امارت د ټکنالوژۍ په برخه کې د ځوانو استعدادونو د روزلو له پاره خپل هوډ څرګند کړی دی. د مخابراتو او ټکنالوژۍ په نندارتون کې خپله د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال همدې خبرې ته اشاره وکړه. حاجي ملا صاحب دغه نندارتون د افغان ځوانانو د استعدادونو د ودې، د دوی له نوښتونو څخه د ملاتړ او د تخنيکي پروګرامونو له لارې د هېواد د مبتکر نسل له پاره اړين وباله او هيله يې څرګنده کړه، چې د داسې ننداړتونونو په اساس به د اسلامي امارت، خصوصي سکتور، علمي بنسټونو او نوښتګرو ځوانانو ترمنځ همکاري زياته او ګران هېواد به د ټکنالوژۍ او ډيجيټلي پرمختګ په ډګر کې نورهم مخکې ولاړ شي. اسلامي امارت ژمن دی چې د ټکنالوژۍ په برخه کې لا نورې لاسته راوړنې هم ولري او په هېواد کې دغه برخه پياوړې کړي.

✓ **درېيم:** ځينو هېوادوالو بيا د بغلان، پروان او کابل د دويم لين سړک د جوړولو غوښتنه کړې او ويلي يې دي چې دا سړک اته ولايتونه يو له بل سره نښلوي او دغه راز يوه سوداګريزه لار هم ده. لويې لارې او سړکونه د يوه هېواد په سوداګرۍ او اقتصاد کې د ملا د تير حيثيت لري. ترهغې چې معياري سړکونه جوړ نه شي، يو هېواد نه شي کولای پرمختګ وکړي، ځکه د سړکونو له لارې له يوه لوري يو هېواد د سيمې له هېوادونو سره نښلي او له بل لوري په ډېرې اسانۍ او کم وخت کې کولای شي خپل کرنيز محصولات او صنعتي توليدات د نورو هېوادونو ترمارکيټونو پورې ورسوي. نو همدا لامل دی چې هېوادونه بايد ترهر څه مخکې د سړکونو او لويو لارو جوړولو او رغولو ته پاملرنه وکړي. اسلامي امارت د سړکونو ارزښت ته په

کتو دې برخې ته لومړيتوب ورکړی دی او دا مهال د افغانستان په زياترو هغو لويو لارو کار روان دی چې سوداګريز او ترانزيتي ارزښت يې زيات دی. د سالنګ د رغېدو چارې روانې دي. ددې ترڅنګ د کندهار- ارزګان سړک او د هرات-غور سړکونو د جوړېدو چارې روانې دي. ددې په خوا کې د کابل- غزني او کابل- جلال اباد دويم لين سړکونه ترکار لاندې دي. د اسلامي امارت په راتګ سره د اکثرو سړکونو بيارغونه شوې ده. لويو ښارونو کې د سړکونو جوړولو ترڅنګ ولايتونو او بيا په ولايتونو کې ولسواليو ته غځېدلي سړکونه هم رغول کېږي. اسلامي امارت ټول هغه سړکونه چې ترانزيتي او سوداګريز ارزښت لري، رغولي او يا يې د رغولو چارې روانې دي. نو د بغلان، پروان او کابل د دويم لين سړک د جوړولو له پاره چې بوديجه او مکانات برابر شي، پر هغه به هم کار پيل شي.

## پايله

ټکنالوژي او مخابرات د نننۍ نړۍ د پرمختګ له مهمو بنسټونو څخه دي. د خلکو په ژوند کې يې اسانتياوې راوستلې دي، اقتصادي وده يې ګړندۍ کړې او تر ټولو مهمه دا چې د هېوادونو ترمنځ يې اړيکې پياوړې کړې دي. خلک په ډېرې اسانۍ کولی شي د تليفون، انټرنيټ او ټولنيز رسنيو له لارې يو له بل سره اړيکې ونيسي. انلاين زده کړې او برېښنايي کتابونو د زده کړې له پاره پراخ فرصتونه برابرکړي دي. ټکنالوژي او مخابرات سوداګرۍ ته پراختيا ورکوي، نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي او د پانګونې زمينه برابروي. برېښنايي حکومتولي د ټکنالوژۍ په مرسته رامنځته کېږي او د اسنادو، مالياتو او نورو دولتي خدمتونو ترلاسه کول اسانه او چټکوي. په روغتيايي برخه کې هم ټکنالوژي ډېره اغېزناکه ده. اسلامي امارت د ټکنالوژۍ او مخابراتو ارزښت ته په کتو په دې برخو کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. د مخابراتو او ټکنالوژۍ ننداړتون جوړول ددې هلو ځلو ښه بېلګه ده. هېوادوالو ددې ننداړتون د جوړېدو هرکلی کړی او ويلي يې

دي چې له ټکنالوژۍ پرته د هېواد پرمختګ ناشونی دی. دا ډېره پرځای خبره ده. نننۍ نړۍ کې چې څومره هېوادونه د پرمختګ په حال کې دي، یو لامل یې دادی چې دوی له ټکنالوژۍ ګټه پورته کړې، نو ځکه یې په هر سکټور کې پرمختګ کړی دی. اسلامي امارت هم غواړي د ټکنالوژۍ په کارولو سره په بېلا بېلو سکټورونو کې پرمختګ ته لار هواره کړي. همدا چې افغانستان په هره برخه کې نوې ټکنالوژۍ وکاروي او په دې برخه کې ځوانان وروزي، نو له شک پرته چې افغانستان به هم د پرمختګ په لور ګامونه پورته کړي.

۱۰

# هرات ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دوه ورځنی سفر



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۱۸مه نېټه هرات ولایت ته د خپل دوه ورځني سفر په ترڅ کې په دغه ولایت کې د لوېدیځ زون په کچه د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار ګټې اخیستنې ته وسپاره. دغه راز یې د ګلبهار سیمنټو د نوې تولیدي فابریکې د بنسټ ډبره کېښووده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ۱۴۰۵کال د اسد میاشتې په ۱۹مه نېټه، د هرات ولایت په تور غونډۍ کې د تاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنستان د راتلونکو ګډو اقتصادي فعالیتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره خبرې وکړې.

د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار ګټې اخیستنې ته د سپارلو په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې لومړني ګامونه اوچت کړي او اړتیا ده، چې له ملي او نړیوالو معیارونو سره سم محصولات او خدمات وړاندې او د محصولاتو د تورید په برخه کې ټاکل شوي معیارونه په سمه توګه رعایت شي. محترم ملا صاحب په دې برخه کې د معیاري لابراتوارونو فعالیت مهم یاد کړ، چې له مخې یې د محصولاتو او تولیداتو کیفیت او اعتبار تضمینیږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ګلبهار سیمنټو د نوې تولیدي فابریکې د بنسټ ډبرې د ایښودو پرمهال تولیدي فابریکې د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو، د صادراتو زیاتوالي، ملي عوایدو او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مهمې وبللې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمنټو د تولید په برخه کې د دې فابریکې جوړېدل د ځان بسیاینې پر لور مهم ګام یاد کړ او ویې ویل، په دې سره به په وارداتي سیمنټو تکیه راکمه، هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره او ساختماني چارې به ورسره پراختیا ومومي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د هرات ولایت په تور غونډۍ کې د تاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنستان د

راتلونکو ګډو اقتصادي فعاليتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره په خبرو کې وويل چې په هرات ولايت کې د تاپي پروژې کارونه په ښه ډول روان دي او تمه ده چې پاتې چارې به يې په ټاکلي وخت بشپړې شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ترکمنستان له ملي رهبر وغوښتل چې دواړه هېوادونه د ګازو د قيمت په اړه هوکړې ته ورسېږي او د قيمت ټاکلو فارمول داسې تعديل شي، چې د ګازو په قيمت کې د اروپايي بازارونو د شديدو بدلونونو له اغېزو څخه مخنيوی وشي. محترم ملا صاحب زياته کړه چې دغه قرارداد دې د اوږدې مودې لپاره ترسره، شرايط يې اسانه او د قرارداد د بياکتنې انعطاف منونکی مېکانېزم هم پکې شامل شي. محترم ملا صاحب په هرات ولايت کې د ګازو د وېش او مصرف لپاره د شبکې په جوړولو کې له ترکمن لوري د همکارۍ، د تاپي پروژې د پاتې موضوعاتو د حل لپاره د ګډ تخنيکي او حقوقي کمېسيون د رامنځته کېدو او په دې پروژه کې لا زياتو افغانانو ته د کاري فرصتونو د برابرولو په اړه د ګډو هڅو غوښتنه وکړه. ورپسې د ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف وويل، د ترکمنستان او افغانستان اړيکې د نيک نيت او ښه ګاونډيتوب پر اساس پياوړې شوې، چې په مختلفو برخو کې يې د ګډو همکاريو فرصتونه رامنځته کړي. هغه زياته کړه، هرات ولايت ته د تاپي نلليکې د پايپ غځولو ترڅنګ په هرات ولايت کې د ګازو د توزيعي شبکې جوړولو او همداراز د تاپ پروژې د عملي چارو د پيل لپاره چمتو دي. د ترکمنستان رهبر وويل، په تاپ پروژه کې يوشمېر بهرنيو شرکتونو د پانګونې لپاره چمتووالی ښودلی دی. ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف زياته کړه، عشق اباد چمتو دی چې په ترکمن باشي بندر کې د افغانستان د ترانزيتي او سوداګريزو توکو لپاره ټولې اسانتياوې برابرې کړي. هغه همداراز د دواړو هېوادونو او سيمې ترمنځ د سوداګرۍ زياتېدو لپاره د لاجوردو مسير د فعالولو لپاره پر مشترکو هڅو ټينګار وکړ. نوموړي افغان لوري ته اطمينان ورکړ چې په افغانستان کې د برېښنا او اوسپنې پټلۍ په برخو کې د پيل شوو پروژو کارونه به په

ټاکلو نېټو او چټکتیا سره بشپړ کړي. په پای کې دوارو لورو د ټاپي ترځنګ د ټاپ، نوري فایبر او اوسپنې پټلۍ پروژو د تعقیب او تطبیق په موخه د لوړپوړو مسوولینو په مشرۍ د تخنیکي کمېټې پر جوړولو هوکړه وکړه، څو د یادو پروژو کارونه په ښه ډول پرمخ ولاړ شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د ترکمنستان د ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف په حضور کې، د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۱۹مه نېټه، د هرات ولایت په تورغونډۍ کې د افغان ګاز اماراتي شرکت او ترکمن ګاز ترکمني شرکت ترمنځ د ټاپي پروژې د ګازو د پیرلو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخې به د ګازو قیمت، د ګازو د اړتیا کچې معلومولو او همدارازد ګازو توزیع پروسه مشخصه شي.

## هرات ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي د مرستیال دوه ورځني سفر موخه:

موخه یې د خوراکي توکو، درملو، صحي محصولاتو معیاري صادراتو او وارداتو له پاره د لابراتوار پرانیسته، د سیمنټو په برخه کې ځان بسیاینه او د اړتیا وړ ګازو چمتو کول دي.

## په اماراتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په اماراتي او خصوصي رسنیو کې (هرات ولایت ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دوه ورځني سفر) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۳۲۸ مثبت نظرونه، ۶۹ منفي نظرونه او ۶ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۱٪ مثبت نظرونه، ۱۷٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

۱. دکیفیت د کنټرول او د خلکو د روغتیا لپاره مهم ګام دی، د هېواد د ابادۍ او پرمختګ هره هڅه د ستاینې وړ ده.

۲. ماشاءالله، د ګازو استعمال به د افغانستان خلکو ته ډېرې ګټې ولري. تر ټولو مهمه ګټه یې دا ده چې زموږ د افغانستان بوټې، واښه، ځنګلونه او غرونه به له بې‌ځایه پرېکولو او د لرګیو له مصرف څخه خوندي پاتې شي.

۳. محترم ملابرادر اخوند باید د جنوب غرب زون د اوبو د کمښت مشکلاتو ته جدي پاملرنه وکړي او غم یې وخوري ځکه په هر نظام کې دې زون ته کومه خاصه توجه نه ده شوې.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✓ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار پرانیستې هرکلی کړی او دا یې د هېواد د ابادۍ او پرمختګ په برخه کې یو مهم ګام بللی او ویلي یې دي چې د توکو د کیفیت په کنټرول سره به د خلکو روغتیا خوندي شي. د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې لابراتوارونه ډېرې ګټې لري. ددې لابراتوارونو پر مټ کولای شو د محصولاتو خوندیتوب تضمین کړو. دا راته په ډاګه کوي چې خوراکي توکي، درمل او صحي محصولات د کیفیت له پلوه په معیار برابر دي. د همدې ډول لابراتوارونو له لارې کولای شو چې د جعلي او غیر معیاري درملو مخه ونیسو. د داسې درملو په مخنیوي سره ددې زمینه برابرېږي چې د خلکو او هېوادوالو روغتیا خوندي کړو. کله چې موږ په معیار برابر خوراکي توکو، درمل او نور صحي محصولات ولرو، نو بیا کولای شو چې نه یوازې په داخلي بازارونو کې د کورنیو محصولاتو پر وړاندې د خلکو باور ترلاسه کړو، بلکې په دې ډول کولای شو نړیوالو بازارونو ته هم په معیار برابر خپل تولیدات او محصولات واستوو. ددې ترڅنګ د همدې لابراتوارونو له لارې ددې زمینه هم برابرېږي چې معیاري واردات ولرو او هېواد ته د غیر معیاري محصولاتو او تولیداتو د راتګ مخه ډب کړو. دداسې لابراتوارونو په جوړېدو سره به موږ په معیار برابر کورني تولیدات او محصولات ولرو او دغه راز به د غیر معیاري وارداتو په مخنیوي سره، خپله سوداګري هم پراخه او هم به له دې لارې د خپلو تولیداتو او محصولاتو پر وړاندې نړیوال او کورنی باور ترلاسه کړو. اسلامي امارت په همدې موخه د هېواد په بېلا بېلو برخو په ځانګړي ډول سرحدونو کې له کومه ځایه چې صادرات او واردات ترسره کیږي، ددې ډول لابراتوارونو د جوړېدو په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. په هرات ولایت کې د زون په کچه دداسې

لابراتوار جوړېدل يې ښه بيلګه ده. د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کيفيت ارزونې معياري لابراتوار ګټې اخيستنې ته د سپارلو په مراسمو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې لومړني ګامونه اوچت کړي او اړتيا ده، چې له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم محصولات او خدمات وړاندې او د محصولاتو د توريد په برخه کې ټاکل شوي معيارونه په سمه توګه رعايت شي. له دې څخه په ډاګه شوه چې اسلامي امارت د توليداتو او محصولاتو معياري کېدو ته پوره پاملرنه کړې او هڅه کوي چې دا لړۍ همداسې روانه وساتي، ترڅو خپله سوداګري پراخه او خپل توليدات او محصولات په معيار برابر کورنيو او بهرنيو بازارونو ته وړاندې کړي.

- ✓ **دويم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ويلي چې هرات ولايت ته د ټاپي پروژې د ګازو په رارسيدو سره به د افغانستان خلکو ته زياتې ګټې ورسيږي. دوی ددې ګټو څخه تر ټولو مهمه دا ياده کړې چې کله ګاز په افغانستان کې موجود وي، نو بيا به خلک دې ته اړتيا پيدا نه کړي چې ځنګلونه او يا هم د غرونو بوټي پرې کړي او د سون له پاره ترې ګټه واخلي. د دوی دا خبره بالکل پر ځای ده. د ځنګلونو پر اهميت سترګې نه شو پټولی. موږ د خپلې بقا له پاره ځنګلونو ته اړتيا لرو. ځنګلونه د سيلابونو په مخنيوي، د خاورې له منځه تللو او د اقليم په بدلون کې مهم رول لري. هرات ته د ټاپي پروژې د ګازو په رارسيدو سره به په هېواد کې نه يوازې د ځنګلونو د پرې کولو مخه ونيول شي، بلکې ددې ګازو په برکت به زموږ صنعت هم وده وکړي. دا ټول هغه څه دي چې د هېواد د اقتصادي پرمختګ او د خلکو د سوکالۍ او ارامۍ لامل ګرځي.

- ✓ **دريیم:** يو شمېر هېوادوالو بيا د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند څخه غوښتي چې د سويل ـ لوېديځ زون د اوبو د کمښت ستونزې ته دې جدي پاملرنه وکړي. اوبه په اوسني عصر کې حياتي اهميت لري.

د اوبو د بندونو جوړول لګښت ته اړتیا لري، خو د سطحي اوبو، تر ځمکه لاندې اوبو د زیرمو تغذیه او د اوبو د بې ځایه لګښت له پاره اړینه ده چې بندونه جوړ او یا هغه بندونه چې پخوا جوړ شوي، ولې چارې یې نه دي بشپړې شوې، د هغو پاتې چارې بشپړې شي. په دې سره به له یوه لوري په هېواد کې د کرنې او سوداګری سکتورونه وده وکړي او له بل لوري به هېواد تر یوه بریده له بهر څخه د واردېدونکې برېښنا څخه خلاصی ومومي. د برېښنا په برخه کې د ستونزو په له منځه وړلو د هیواد صنعت پرمختګ کوي او د صنعت په پرمختګ سره به اقتصادي ټیکاو رامنځته شي. اسلامي امارت پورتنیو ټکو ته په پاملرنې سره د اوبو مهارولو او مدیریت په برخه کې رغنده ګامونه پورته کړي دي. لکه څنګه چې هېوادوالو غوښتنه کړې چې په سویل- لویدیځ زون کې دې د اوبو د کمښت ستونزې هوارې شي، اسلامي امارت په دې زون کې د اوبو د مدیریت په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. د هلمند د کجکي بند د دویم فاز جوړول، د زابل د عمري بند جوړول او ګټې اخیستنې ته سپارل او نیمروز کې د کمال خان بند د چارو بشپړول یې ښې بیلګې دي. دغه راز په یاد زون کې کوچني بندونه هم جوړ شوي دي. اسلامي امارت د هېواد د پرېمانه اوبه د مهارولو او مدیریت له پاره قوي هوډ لري. هڅه یې داده چې په ټول توان اوبه مهار او د هېواد شاړې دښتې زرغونې او سمسورې شي او هم خلکو ته د څښاک اوبه برابرې شي.

## پایله

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ولایت ته د خپل دوه ورځني سفر په ترڅ کې په دغه ولایت کې د لوېدیځ زون په کچه د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار ګټې اخیستنې ته وسپاره. دغه راز یې د ګلبهار سیمنټو د نوې تولیدي فابریکې د بنسټ ډبره کېښوده

او د هرات ولايت په تور غونډۍ کې يې د تاپي پروژې د وروستيو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنستان د راتلونکو ګډو اقتصادي فعاليتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره خبرې وکړې. دا ټولې هغه زيربناوې دي چې په جوړېدو سره به يې هم سوداګري پراختيا ومومي او هم به د هېواد په کچه صنعتي فعاليتونه ورسره وغوړېږي. هېوادوالو هم په خپلو نظرونو کې ددې خبرونو هرکلی کړی او ويلي يې دي چې که چيرې په همدې ډول زيربناوې ورغول شي او هېواد ته ګاز راشي، نو زموږ هېواد به په هره برخه کې د پرمختګ جوګه او هېوادوال به مو هوسا ژوند وکړي.

Office of Deputy PM for Economic Affairs

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

dpmea.gov.af @FDPM_AFG fdpm_afg